مؤسس: عبدالرووف بېنوا
تأسیس کال: ۱۳۲۸ لمریز

هېواد

ورځپانه

پنجشنبه | ۱۶ / محرم الحرام / ۱۴۴۸ هـ ق | ۱۱ / چنګاښ / ۱۴۰۵ هـ ش | 2026/JULY/2 م | خصوصي ګڼه: ۷۵ مه | پرله پسې ګڼه: ۱۰۴۶ مه | دوره: اتمه

افغان هوايي ځواکونو بلوچستان او خيبر پښتونخوا کې د داعشيانو پر مرکزونو بريدونه کړي

دفاع وزارت ويلي، چې افغان هوايي ځواکونو د بلوچستان د پشين ضلعې د سرانانو په ساحه کې د داعشيانو او شر او فساد په ګډ مرکز هوايي ګوزارونه کړي.

بلخوا د خيبرپښتونخوا په قمبرخېلو ساحه کې د داعشيانو په يو مرکز او د چترال شاه سليم درې اړوند ګرم چشمو سيمه کې د داعشيانو او شر او فساد په يو بل ګډ مرکز د افغانستان د هوايي ځواک له لوري بريالي بريدونه وشول. ياد وزارت زياته کړې، چې له دغو مراکزو څخه په افغانستان کې د تخريبي کړنو او بريدونو لپاره ګټه اخيستل کېده او د هغو بمباړونو د کوردينات د مرکز په توګه کارېدل، چې په افغانستان کې ملکي خلک په کې هدف وګرځېدل.

د لومړنيو معلوماتو له مخې په دې بريدونو کې داعشيانو او شر او فساد د دوی حاميانو ته درانه ځاني تلفات او مالي زيانونه اوښتي او ملکي زيان نه لري.

د دفاع وزارت په وينا؛ د افغانستان هوايي دفاعي ځواکونه به هر هغه ځای چې د افغانستان د امنيت د اخلال لپاره استفاده ترې کېږي هدف وګرځوي.

د صنعت او کانونو اوونۍ پنځم نړيوال نندارتون په کابل کې پرانيستل شو

د صنعت او کانونو د اوونۍ پنځم نړيوال نندارتون د چهارشنبې په ورځ په کابل کې د يو لړ مراسمو په ترڅ کې د اسلامي امارت د چارواکو په ګډون پرانيستل شو.

د رياست‌الوزراء اداري مرستيال مولوي عبدالسلام حنفي د صنعت او کانونو اوونۍ پنځم نړيوال نندارتون د پرانيستې مراسمو کې ويلي، دغه نندارتون کې د کورنيو توليداتو ننداره د افغانستان صنعتي ودې ښکارندويي کوي.

مولوي عبدالسلام حنفي ويلي، د خو لسيزو جګړو افغانستان له هره پلوه زيانمن کړی او اسلامي امارت د جګړې اغېزو کمولو او د سوداګرۍ پراختيا هڅې کوي.

د رياست الوزراء . . .

۷مخ

د افغانستان او قرغيزستان ترمنځ سياسي او اقتصادي اړيکې پراخېږي

په قرغيزستان کې د افغانستان د سفارت سرپرست مولوي عبدالشکور حقاني د دغه هېواد د بهرنيو چارو وزارت د څلورمې سياسي څانګې له رئيس، ميربېک باکيتوويچ سره په کتنه کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سياسي، اقتصادي او فرهنګي همکاريو د پراختيا او د سوداګرۍ او ترانزېټ د پياوړتيا په اړه خبرې کړې دي . . .

۷مخ

افغان سوداګرو په ترکيه کې د ۱۰۰ ميليونه ډالرو په ارزښت سوداګريز تړونونه لاسليک کړل

د بلخ د سوداګرۍ او پانګونې خونې د دارالانشاء مشر اسدالله اسدي وايي، افغان سوداګرو په ترکيه کې له ترکي سوداګرو سره د ۱۰۰ ميليونه ډالرو په ارزښت سوداګريز تړونونه لاسليک کړي دي.

د نوموړي په وينا، د دې سفر موخه د کرنې، صنعت، پانګونې او اقتصادي پياوړتيا په برخو کې د بهرنۍ پانګونې جلبول وو. اسدي ويلي، د دواړو هېوادونو سوداګرو د ويزو . . .

۷مخ

د اطلاعاتو او فرهنګ وزير:

رسنۍ دې د منکراتو له خپرولو ډډه وکړي او د يووالي کلتور دې پياوړی کړي

د اطلاعاتو او فرهنګ وزير شيخ شير احمد حقاني، د کاپيسا ولايت د خبريالانو د فکري، عقيدوي او مسلکي ظرفيت لوړونې په يو ورځني سيمينار کې له رسنيو غوښتي، چې د منکراتو له خپرولو ډډه وکړي او په خپلو فعاليتونو کې ديني ارزښتونو ته لومړيتوب ورکړي.

نوموړي همدارنګه ټينګار کړی، چې خبريالان بايد يووالی د خپلو فعاليتونو محور وګرځوي، له قومي، سمتي او ژبنيو تعصبونو سره مبارزه وکړي، حقايق په رښتينولۍ منعکس کړي او د دښمنانو توطيې شنډې کړي.

د اطلاعاتو او فرهنګ وزير، پر هېواد د پاکستان د پوځي رژيم وروستيو بريدونو ته په اشارې ويلي: «موږ له بمباريو او سختيو وېره نه لرو، ځکه هغه ځواک مو مات کړی چې تر تاسو په پرمختللې ټکنالوژۍ او عصري وسلو سمبال و.»

ښاغلي حقاني زياته کړې، چې د افغانستان ولس له هېڅ ډول ګواښ نه وېرېږي او ماتې نه مني.

د نوموړي په وينا: «د اسلامي نظام مسؤلان ازاد دي او د آزادۍ په ارزښت او مفهوم ښه . . .

۷مخ

له هرات څخه ۱۱۵ شرکتونه خپل توليدات بهرنيو هېوادونو ته صادروي

د هرات د بهرنيو اړيکو په دفتر کې د کورنيو توليداتو د ملاتړ په موخه غونډه شوې، چې پکې د هرات والي مولانا اسلام جار، د سيمې هېوادونو سياسي استازو، د نړيوالو سازمانونو او بهرنيو بنسټونو مسئولينو ګډون کړی و.

ښاغلي اسلام جار په دغه غونډه کې له صنعت کارانو غوښتي، چې د توليداتو کيفيت ته پاملرنه وکړي او زياته کړې يې ده، چې ډېر ژر به له ترکمنستان سره د کورنيو توليداتو د ملاتړ په موخه د دوه ميليونه ډالرو په ارزښت يو تړون لاسليک شي.

په ورته مهال د هرات د صنايعو او کانونو خونې مسئولين وايي، چې اسلامي امارت له صنعتکارانو هر اړخيز ملاتړ کړی او دا مهال د هرات په صنعتي ښارګوټي کې شاوخوا ۱۳۵۰ فابريکې فعاليت کوي.

د يادې خونې د مسئولينو په خبره، دا مهال له هرات څخه ۱۱۵ شرکتونه خپل توليدات بهرنيو هېوادونو ته صادروي.

هېره دې نه وي، چې له تېرو شاوخوا پينځو کلونو راهيسې په هېواد کې د صنعت سکټور د پام وړ وده کړې او د اسلامي امارت مسوولين هڅه کوي، چې د لا ملاتړ لپاره يې شته خنډونه له منځه يوسي.

کابل کې د «افغانستان او سيمه؛ فرصتونه او ننګونې» تر سرليک لاندې علمي ـ څېړنيز سيمينار جوړ شو

د افغانستان د علومو اکاډمۍ له لوري د «افغانستان او سيمه؛ فرصتونه او ننګونې» تر سرليک لاندې علمي ـ څېړنيز سيمينار جوړ شو. په دې سيمينار کې د اسلامي امارت اداري مرستيال، مولوي عبدالسلام حنفي، د اسلامي امارت مرستيال وياند، ملا حمدالله . . .

۷مخ

کرېکټ؛ د شپږيزه کرېکټ لیګ سیالۍ پيل شوې

د افغانستان کرېکټ بورډ له لوري د چنګاښ ۱۰مه په خوست کې شپږيزه کرېکټ لیګ سیالۍ پيل شوې.

په دې سيالیو کې ۵ لوبډلو ونډه اخيستې، چې د ۱۴ ورځو په موده کې به ۲۱ سيالۍ ننداري ته وړاندې کړي.

د دې سيالیو په لومړۍ لوبه کې امو نهنګان او بند امير ښاماران لوبډلې ډګر ته ښکته شوې.

د کرېکټ بورډ د معلوماتو له مخې دا لومړی ځل دی، چې يادې سيالۍ له پلازمېنې کابل څخه بهر په يوه ولايت کې ترسره کېږي.

په دې پړاو کې پنځه لوبډلې (سپين‌غر، بندامير، مس‌عينک، امو او بست) ګډون لري، چې د ملي لوبډلې د پياوړو لوبغاړو سربېره به په کې ځوان او د کورني کرېکټ ګڼ شمېر لوبغاړي ونډه ولري.

سربېره پر دې، په دې سيالیو کې د سپين غر لپاره لوبډلمشر راشد خان ټاکل شوی دغه راز د امو لپاره عظمت‌الله عمرزی، مس‌عينک لپاره رحمن‌الله ګربز، د بست لپاره ابراهيم ځدراڼ او حشمت‌الله شهيدي بيا د بندامير لوبډلې د لوبډلمشر چارې په غاړه لري. په يادو سيالیو کې به هره لوبډله له بلې لوبډلې سره دوه . . .

۷مخ

غور کې د قيمتي ډبرو د درېيو کانونو د استخراج چارې پيل شوې

د غور د پسابند ولسوالۍ اړوند په خونيه سيمه کې د عقيقو د درېيو کانونو د استخراج چارې پيل شوې.

د ياد ولايت د کانونو او پټروليم رئيس مولوي عبدالحکيم حکمت وايي، چې د دغه کانونو د استخراج چارې له خصوصي سکټور سره لاسليک شوې او له استخراج وروسته به يې پلور د ازادۍ داوطلبۍ له مخې ترسره شي.

د قراردادي شرکتونو استازو ويلي، هڅه کوي د دغو قيمتي ډبرو استخراج د ټاکلو معيارونو پر بنسټ ترسره کړي او له مخې به يې ګڼو کسانو ته د کار زمينه برابره شي.

د سيمې اوسېدونکو د کانونو د معياري اسخراج په برخه کې دا اقدام ستايلی او د اسلامي امارت د مسئولينو له هڅو يې هرکلی کړی دی. د غور د کانونو رياست د شمېرو له مخې، په دې ولايت کې ټولټال ۱۷۲ کانونه ثبت شوي، چې له دې ډلې يې ۱۱ کانونه د سروې او استخراج لپاره خصوصي شرکتونو ته په قرارداد ورکړل شوي دي.

سرليکنه

د کابل درې اړخيزه ناسته؛ د نړيوالو اړيکو په برخه کې مهم ګام

په نړيوال سياست کې هره هغه ناسته چې د اړيکو د پراختيا، تفاهم او ګډې همکارۍ لپاره تر سره کېږي، ځانګړې ارزښت لري. هغه هېوادونه چې د خبرو، ډيپلوماسۍ او متقابل احترام پر بنسټ اړيکې پراخوي، د سياسي او اقتصادي پرمختګ لپاره پراخ فرصتونه ترلاسه کوي. د کابل وروستۍ درې اړخيزه غونډه هم د همدې ليدلوري له مهمو پرمختګونو څخه ده او د افغانستان لپاره د نړيوال تعامل يوه ارزښتناکه مرحله ګڼل کېږي.

د قطر سفارت په کابل کې اعلان کړی چې د افغانستان او نړيوالې ټولنې ترمنځ د اړيکو په اړه يې د يوناما او د اسلامي امارت د بهرنيو چارو وزارت له لوړ پوړو چارواکو سره درې اړخيزه غونډه کړې ده. په دې غونډه کې د افغانستان او نړيوالې ټولنې ترمنځ د اړيکو د پياوړتيا، د تعامل د پراختيا او د ګډو همکاريو د زياتوالي پر لارو چارو خبرې شوې دي. د دغسې ناستو دوام دا څرګندوي چې افغانستان د نړيوالو بحثونو او ډيپلوماتيکو اړيکو يوه مهمه برخه ګرځېدلی دی.

الحمدلله، نن افغانستان له هغه امنيت څخه برخمن دی چې د سيمې او نړۍ ډېری هېوادونه يې په څرګند ډول يادونه کوي. همدا امنيت د دې لامل شوی چې د بېلابېلو هېوادونو استازي کابل ته سفر وکړي، له افغان چارواکو سره مخامخ خبرې وکړي او د همکاريو نوې لارې ولټوي. امنيت د هر ډول پرمختګ، پانګونې او نړيوال تعامل اساسي شرط دی او د افغانستان اوسنی وضعيت د همدې حقيقت څرګندونه کوي.

د افغانستان اسلامي امارت له پيل راهسې په خپل بهرني سياست کې د متوازن تعامل تګلاره غوره کړې ده. اسلامي اصول، متقابل احترام او ملي ګټې د همدې سياست مهم عناصر دي. اسلامي امارت له ټولو هېوادونو سره د ښو اړيکو، اقتصادي همکاريو او رغنده تعامل غوښتونکی دی او هڅه کوي چې افغانستان د همکارۍ او تفاهم له لارې د سيمې او نړۍ له هېوادونو سره خپلې اړيکې لا پياوړې کړي. هغه تبليغات چې افغانستان به په انزوا کې پاتې شي، نن ورځ له واقعيت سره سمون نه لري. د نړۍ د بېلابېلو هېوادونو استازي کابل ته راځي، رسمي ناستې ترسره کېږي او د اړيکو د پراختيا لپاره عملي ګامونه پورته کېږي. دا بدلونونه ښيي چې افغانستان د نړيوال تعامل په يوه نوي پړاو کې داخل شوی او د خبرو اترو دروازې ورځ تر بلې پراخېږي.

د اسلامي امارت مشرتابه هم په وار وار د نړۍ له هېوادونو سره د ښو اړيکو غوښتنه کړې ده. د اميرالمؤمنين شيخ هبت‌الله حفظه الله له لوري هم څرګنده شوې چې اسلامي امارت له ټولو هېوادونو سره ښې اړيکې غواړي. دا دريځ د افغانستان د بهرني سياست د عمومي تګلارې څرګندونه کوي او د متقابل احترام او همکارۍ پر اهميت ټينګار کوي.

د کابل وروستۍ درې اړخيزه ناسته د افغانستان د نړيوال تعامل د پراختيا يوه بله مهمه نښه ده. که دا بهير همداسې دوام ومومي، د سياسي اړيکو، اقتصادي همکاريو او نړيوال باور لپاره به لا ډېر فرصتونه رامنځته شي. الحمدلله، افغانستان نن د تعامل، امنيت او ثبات پر لاره روان دی او له نړۍ سره د متقابل احترام او نېک نيت پر بنسټ د همکاريو د پراختيا هڅې کوي.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم اداري او سیاسي ستراتیژي

مفتي نورالله عزام - درویشتمه برخه

د نبوي دولت مالي چارې
(اقتصادي نظام)

٦_د نبوي دولت د عامه مالونو د چارو تنظیم

که څه هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې بیت المال د یوې ځانګړې اداري او ځای په بڼه نه و غوره شوی؛ خو مدینې منورې ته راتلونکي مالونه په مختلفو ځایونو کې ساتل کېدل، دغه مالونه په دوه ډوله وو، لومړی نقدي مالونه لکه: سپین زر، سره زر، دینار او درهم او دویم عیني مالونه لکه: زراعت او حیوانات. د دواړه ډوله مالونو د خوندیتوب لپاره ځانګړي ځایونه ټاکل شوي و، بیت المال ته نقدي راتلونکي مالونه به د رسول الله صلی الله علیه وسلم او ځینو صحابوو په کورنو کې ساتل کېدل او عیني مالونه به د نبي علیه السلام تر څارنې لاندې په ځانګړي ځای کې ساتل کېدل. ابن سعد وایي: «رسول الله صلی الله علیه وسلم به د رمله بنت الحارث له کور څخه د بیت المال د ساتنې په توګه کار اخیست، هلته یې بندیان او غنیمتونه هم ساتل» . نبي علیه السلام حضرت بلال بن رباح رضی الله عنه د بیت المال خازن ټاکلی و، کله چې به وفدونه راتلل؛ نو د رسول الله په امر یې هغو ته نقدي او عیني ډالۍ ورکولې .

حنظلة ابن الربیع به بیت المال ته راتلونکي مالونه لیکل او بیا یې لړ تر لړه په درې ورځو کې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د مالونو تفصیلي راپور ورکاوه، بیا به نبي علیه السلام دغه مالونه پر نېستمنو خلکو وېشل، په کومه ورځ چې به یې مالونه توزیع کول تر هغو نه وېده کېده چې ټول مال پر نېستمنو تقسیم شوی نه و . له مختلفو روایتونو داسې برېښي چې د مالونو د توزیع لپاره کوم ځانګړی وخت نه و ټاکل شوی، چې کله به مالونه راغلل رسول الله صلی الله علیه وسلم پر بېوزله خلکو توزیع کول. یو ځل د بحرین والي مدینې منورې ته اته سوه زره درهمه (۸۰۰،۰۰۰) نقد مال راولېږه، نبي علیه السلام امر وکړ چې مسجد نبوي کې یې کېږدئ او بیا یې ټول مال توزیع کړ ترهغو په مسجدنبوي کې و چې ټول مال یې تقسیم کړ او مالونه په داسې ډول توزیع کېدل چې چا به خپله برخه یو وړه د هغه نوم به ولیکل شو.

له روایتونو داسې برېښي چې د بیت المال د مالونو د ساتنې چارې رسول الله صلی الله علیه وسلم تر ډېره حده درې تنو ته سپارلې وې: بلال بن ابي رباح، عمر بن الخطاب او ابوعبیده بن الجراح رضی الله عنهم. په یو روایت کې راغلي دي چې نبي علیه السلام د خیبر مالونو لپاره ځانګړی وکیل ټاکلی و، جابر بن عبدالله رضی الله عنه وایي، ما غوښتل خیبر ته ولاړ شم نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلم، هغه راته وویل: «إِذَا أَتَيْتَ وَكِيلِي فَخُذْ مِنْهُ خَمْسَةَ عَشَرَ وَسْقًا فَإِنِ ابْتَغَى مِنْكَ آيَةً فَضَعْ يَدَكَ عَلَى تَرْقُوَتِهِ» .

ژباړه: کله چې زما وکیل ته ورشئ نو له هغه څخه پنځلس وسقه (خرما) واخله، که چېري یې د کومې نښې پوښتنه درڅخه وکړه؛ نو خپل لاس دې پر څېګر کېږده.

له دې څخه معلومېږي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم او وکیل ترمنځ ځانګړي شفرونه موجود وو څو د بیت المال په مالونو کې ښه دقت وشي او پر خپل ځای مصرف شي. د بیت المال له مالونو څخه یوه غټه برخه څاروي وو، چې نبي علیه السلام ته د غنیمت او یا فيئ په توګه رالیږل کېدل، د دغو غنیمتونو د ساتنې لپاره ځانګړې ساحه ټاکل شوې وه، چې دېته په عربي کې «حَمی» وایي او د رسول الله صلی الله علیه وسلم «حمي» په مدینه منوره کې د «نقیع» ځمکه وه، په دغه ځمکه کې به د بیت المال څاروي ساتل کېدل او بیا به دغه څاروي د جهاد لپاره چمتو کېدل. په ځینو روایتونو کې راځي چې نبوي دولت به د بیت المال دغه څاروي له تقسیم مخکې په ځینو عامه کارونو کې هم استخدامول. یو ځل د «عُرنیي» سېمې ځیني خلک مدینې ته راغلل، د هغه ځای هوا بده پرې ولګېده؛ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم امر وکړ چې دوی دې له مدینې بهر د څارویو له څرځای سره و اوسیږي او هلته دې د اوښانو بولې او شېدې وڅښي او هوا ته دې تغیر ورکړي، دوی دا کار وکړ. په ابوداود کې یو روایت رانقل شوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به تر تقسیم مخکې د بیت المال څاروي د جهاد لپاره هم کارول . له مدینې منورې پرته په نورو ښارونو کې د مالونو د ساتنې لپاره کوم ځانګړی ځای نه و ټاکل شوی، په عامه توګه به دغه مالونه یا د والیانو په کورونو او په جوماتونو کې ساتل کېدل، څو یې د نبوي دولت پلازمېنې ته ولېږدوي.

د ملتونو عروج او زوال؛ د تاریخ تلپاتې درسونه

قاري محمد عمیر

د تاریخ پاڼو ته د تېر وخت د پېښو د ثبت دفتر په نظر مه ګورئ، دا د ملتونو د بریاوو، ناکامیو، کمزورۍ او راتلونکي لپاره د ارزښتناکو تجربو ژوندۍ خزانه ده. هر ملت چې خپل تاریخ په ژور نظر ولولي، دا حقیقت به درک کړي چې د تمدنونو او دولتونو د پرمختګ او زوال تر شا څرګند او تکرارېدونکي عوامل موجود دي. هېڅ قوت د تل لپاره نه دی پاتې شوی، هېڅ کمزوري هم ابدي دوام نه دی کړی. د تاریخ دا پرله‌پسې بدلون انسان دې پایلې ته رسوي چې د ملتونو برخلیک د تصادف محصول نه وي، دا د فکر، باور، عدالت، علم، اقتصاد، رهبرۍ او ټولنیز نظم له کیفیت سره نږدې اړیکه لري.

قرآن کریم انسانانو ته د پخوانیو ملتونو د برخلیکونو د مطالعې بلنه ورکوي، څو د هغوی له تجربو څخه عبرت واخلي. الله تعالی فرمایي: (قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِكُمْ سُنَنٌ فَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِينَ) [آل عمران: ۱۳۷]؛ یعنې: «له تاسو مخکې ډېر حالتونه تېر شوي دي، په ځمکه کې وګرځئ او وګورئ چې د حق د درواغ ګڼونکو پایله څنګه شوې ده.» دا الهي لارښوونه څرګندوي چې تاریخ د انسان د روزنې، فکر او سمې پرېکړې مهمه سرچینه ده.

د قرآن کریم په ګڼو آیتونو کې د عاد، ثمود، د فرعون د قوم، د سبا د خلکو او نورو امتونو کیسې بیان شوې دي. د دغو ټولو روایتونو ګډ پیغام دا دی چې کله ظلم، غرور، فساد او د حق انکار پراخ شي، د زوال عوامل هم ورسره راټوکېږي. په مقابل کې، عدالت، ایمان، امانت، مسئولیت او اصلاح د پرمختګ لاره هواروي. له همدې امله د قرآن تاریخي بیان یوازې د تېر وخت کیسه نه ده، بلکې د هر عصر لپاره ژوندی درس دی.

اسلامي تمدن هم د همدې اصل روښانه بېلګه وړاندې کوي. د رسول الله (ص) له بعثت وروسته په ډېر لنډ وخت کې داسې ټولنه رامنځته شوه چې د علم، عدالت، قانون، نظم او اخلاقي ارزښتونو پر مټ یې د نړۍ په تاریخ کې نوې پاڼه پرانیسته. د مدینې اسلامي دولت د افرادو ترمنځ د مساواتو، د قانون د واکمنۍ او د مسئولیت احساس داسې فضا رامنځته کړه چې د څو لسیزو په موده کې یې ستر تمدني بدلون وزېږاوه.

د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه د خلافت پر مهال د دولت ثبات خوندي شو، د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه په دوره کې اداري اصلاحات، مالي نظم او عدالت پراخ شو، د حضرت عثمان رضي الله عنه پر وخت اقتصادي فعالیتونه وده وکړه او د حضرت علي رضي الله عنه په زمانه کې د حق او عدالت د ساتنې هڅې دوام وموند. دا ټولې تجربې ښیي چې سالمه رهبري، عدالت او د قانون درناوی د دولت د ځواک مهم عوامل دي.

د اسلامي تمدن زرینه دوره هغه مهال رامنځته شوه چې علم د ټولنې مهم ارزښت و. بغداد، دمشق، قرطبه، بخارا، سمرقند او نیشاپور د علم، طب، ریاضیاتو، ستورپوهنې، فلسفې او انجینرۍ مهم مرکزونه وګرځېدل. مسلمان عالمانو د یوناني، فارسي او هندي علوموژباړې وکړې، خپلې څېړنې یې وړاندې ورزیاتې کړې او د نړۍ د علمي پرمختګ لپاره یې پراخ خدمت ترسره کړ. دا پرمختګ د تصادف پایله نه وه؛ د علم درناوی، فکري ازادي، اقتصادي ځواک او اغېزمن مدیریت یې مهم لاملونه وو.

په مقابل کې، د تاریخ بېلابېل تمدنونه هغه وخت د کمزورۍ پر لور ولاړل چې د علم پر ځای جهل، د عدالت پر ځای ظلم، د امانت پر ځای فساد او د ګډو ګټو پر ځای شخصي غوښتنې پراخې شوې. د روم امپراتورۍ، د ساسانیانو دولت او ګڼ نور ځواکمن نظامونه د همدې ډول داخلي ستونزو له امله ورو ورو کمزوري شول. بهرني ګواښونه ډېری وخت وروستی فشار وي، حال دا چې د زوال ریښې تر ډېره د ټولنې په دننه کې راټوکېږي.

نامتو مورخ او ټولنپوه ابن خلدون په خپل مشهور اثر «المقدمة» کې دې موضوع ته ځانګړې پاملرنه کړې ده. هغه لیکي چې ملتونه د ګډ هدف، همغږۍ، عدالت او قوي ارادې له لارې ځواکمن کېږي، خو کله چې تجمل، بې‌پروايي، داخلي اختلاف او فساد زیات شي، د کمزورۍ بهیر هم پیلېږي. د ابن خلدون دا تحلیل تر نن ورځې د تاریخ او ټولنپوهنې په بحثونو کې مهم ځای لري.

اقتصاد هم د ملتونو د ځواک او کمزورۍ له مهمو برخو څخه دی. هغه ټولنې چې تولید، تجارت، صنعت او مالي نظم ته وده ورکوي، د پرمختګ لپاره پراخ فرصتونه پیدا کوي. په مقابل کې، اقتصادي ګډوډي، بې‌کاري، مالي فساد او د منابعو ناسمه استفاده د ټولنې د ثبات پر بنسټونو منفي اغېز کوي. تاریخ ښیي چې اقتصادي کمزوري ډېر ځله د سیاسي او ټولنیزو ستونزو لړۍ هم ورسره مل وي.عدالت د ملتونو د ثبات مهم راز دی. کله چې قانون پر ټولو یو شان تطبیق شي، د خلکو باور زیاتېږي، اقتصادي فعالیتونه پراخېږي او ټولنیز نظم پیاوړی کېږي. که عدالت کمزوری شي، د خلکو او دولت ترمنځ واټن زیاتېږي او د بې‌باورۍ فضا رامنځته کېږي. له همدې امله د تاریخ بریالي نظامونه د قانون او عدالت د ټینګښت له امله یادېږي.

تعلیم او فکري روزنه هم د ملتونو د راتلونکي په ټاکلو کې ژور اغېز لري. هغه نسل چې علم، مهارت، مسئولیت او سالم فکر ولري، د نوښت، تولید او اصلاح توان پیدا کوي. که علم ته پاملرنه کمه شي، د پرمختګ بهیر ورو کېږي او ټولنه د نورو ملتونو له سیالۍ وروسته پاتې کېږي. د همدې لپاره د نړۍ بریالي هېوادونه د ښوونې، څېړنې او نوښت لپاره دوامداره پانګونه کوي.

معاصره نړۍ هم د تاریخ همدا قانون تکراروي. نن هغه هېوادونه د اقتصاد، صنعت، علم او ټکنالوژۍ په ډګر کې مخکښ دي چې د لسیزو لپاره یې روښانه لید، منظم پلان او دوامدار کار کړی دی. هغوی د بشري پانګې روزنې، علمي څېړنو، تولید او قانون حاکمیت ته لومړیتوب ورکړی او د همدې تګلارې پایلې یې نن څرګندې دي.

افغانستان هم د خپل اوږد تاریخ په اوږدو کې د ځواک او کمزورۍ بېلابېل پړاوونه لیدلي دي. دا تجربه څرګندوي چې ملي یووالی، علم، عدالت، اقتصادي فعالیت او مسؤلانه اداره د هېواد د ثبات او پرمختګ لپاره مهم ارزښت لري. هر نسل دنده لري چې د تېر وخت له تجربو څخه زده کړه وکړي، د تېروتنو د تکرار مخه ونیسي او د راتلونکي لپاره غوره لاره وټاکي.د تاریخ د مطالعې تر ټولو مهمه ګټه دا ده چې انسان د پېښو تر شا لاملونه وپېژني. ظاهري ځواک، لوی پوځونه او پراخې شتمنۍ د تلپاتې بقا تضمین نه شي کېدای. هغه ملت چې اخلاقي ارزښتونه وساتي، علم ته درناوی وکړي، عدالت پلی کړي، اقتصادي فعالیت پیاوړی کړي او د ګډو ملي ګټو لپاره کار وکړي، د پرمختګ امکانات یې هم پراخېږي.د ملتونو عروج او زوال د تاریخ یو تلپاتې قانون دی. دا قانون د تصادف پر ځای د عمل، فکر او پرېکړو له پایلو سره تړاو لري. قرآن کریم، اسلامي تاریخ او د نړۍ د تمدنونو تجربې ټول دا حقیقت بیانوي چې عدالت، علم، ایمان، مسئولیت، اقتصادي ځواک او سالمه رهبري د ملتونو د پرمختګ مهم عوامل دي. په مقابل کې، ظلم، فساد، جهل، داخلي اختلاف او بې‌عدالتي د کمزورۍ او زوال دروازې پرانیزي. هر هغه ملت چې د تاریخ له دغو درسونو څخه سمه ګټه واخلي، د خپل راتلونکي د سمون لپاره به روښانه لورې ومومي.

په مظلومانو باندې په تورو شپو کې ړندې بمبارۍ په ظالمانو تورې تیارې راولې

مولوي خالد تسل

د الله جل جلاله عادت په دې جاري دی، چې د جاهل کافر واکمني نه چپه کوي؛ خو د ظالم مسلمان واکمني ژر چپه کوي.همداشان الله جل جلاله بیا ځینو ظالمانو ته مهلت ورکوي، چې، پخپله سرکشۍ کې نور هم مخته ولاړ شي او بیا یې یو دم د خپل قهر په منګولو کې را حصار کړي.په پاکستان کې سر ناخلاصه او سر ټمبه د فوځ استبدادي حلقې د خپل ځواک څخه په ناسمې استفادې څو څو وار د ترهګرو په بهانه بې ګناه افغانان، ماشومان، ځوانان، بوډاګان، تور سرې او سپین ږیري د تورو شپو په تورو تیارو کې د خپلو تورو او شومو کړنو قربانیان کړل.د خدای جل جلاله په صفتي نومونو کې یو هم المنتقم (انتقام اخیستونکی دی)، خدای ج د مظلوم غږ ډېر ژر اوري او ډېر ژر یې آرمان ور پوره کوي.په مادي ځواک سر مسته شرابي فوځیان دې پوه وي، که چېري تاسو په خپلو پرمختللي مادي ځواک غره یاست، نو موږ بیا د خپل حقیقي ځواکمن څښتن د مرستې په ځواک او انتقام باندې نازېږو.

دوی که نړیوالو ته ځانونه سپین معرفي کوي، نو موږ بیا خدای ته مخ توري نه یو.

اساسي مسئله دا نه ده، چې ولې دوی بمبار کوي؟ بلکې اساسي مسئله دا ده چې دوی چې څوک د خپل خونړي بمبار لاندې را وستلي، هغوی د دوی په اصطلاح ترهګر نه بلکې عام بې ګناه ملکي وګړي دي.دوی بیا په ډېره سپین سترګۍ د خپل ولس په سترګو کې خاورې ور اچوي او ورته وایي: چې په ننني عملیاتو / آپریشن کې مې دومره اندازه پاکستاني طالبان ووژل.

په داسې حال کې چې په خپله خبره کې ټول دروغجن دي.

په پای کې دا وایم نظامونه ظلمونو چپه کړي او د نظام په اړه د ظلم دنیوي تیاره دا ده چې منتقم ذات د واک او ځواک عزتمن وګړي ذلیل او خوار ګرځوي او نظام ورباندې چپه کوي.

موږ د خدای څخه همدا غواړو چې خدای دې دغه فوځي، استبدادي او شرابي رژیم نیست او نابود کړي. ځکه چې د موضوع یواځینی حل هم همدغه دی.او موږ همدا امید د منتقم ذات څخه لرو چې هغه به هرومرو زموږ بدل اخلي او موږ به هم ان شاء الله په مناسب وخت کې مناسب دفاعي ځواب وایو، ځکه د هوایي حریم د نقض په مقابل کې د دفاع مسلم حق لرو.

ربه! ځانګړی رحم راباندې پیرزو کړه.

د ارزښتونو بدلون؛ معاصره ټولنه کوم لوري ته روانه ده؟

عبد الباسط

د انسان د ژوند له پیل څخه تر نن ورځې پورې ارزښتونه د ټولنو د فکري، اخلاقي او تمدني جوړښت مهمه برخه پاتې شوې ده. هره ټولنه د خپلو ارزښتونو له مخې پېژندل کېږي، خپل هویت ساتي او د راتلونکو نسلونو لپاره د ژوند لوری ټاکي. کله چې ارزښتونه پیاوړي وي، ټولنیز باور، کورنۍ اړیکې، علمي هڅې او اقتصادي فعالیتونه هم منظم بهیر غوره کوي. که ارزښتونه کمزوري شي، د ټولنې په بېلابېلو برخو کې ګډوډي، بې‌باوري او فکري بحران رامنځته کېږي. له همدې امله د ارزښتونو بدلون د معاصرې نړۍ له مهمو موضوعاتو څخه دی؛ ځکه دا بدلون د انسان پر فکر، چلند، کورنۍ، اقتصاد، سیاست او فرهنګ مستقیم اغېز کوي.

د معاصرې نړۍ چټک پرمختګ د انسان د ژوند ډېرې برخې بدلې کړې دي. ټکنالوژي، نړیوال تجارت، چټکې اړیکې او ټولنیزې رسنۍ د انسان د ژوند طرز، د معلوماتو د ترلاسه کولو لارې او د فکر چاپېریال بدل کړی دی. دا بدلونونه له ځان سره ګڼ فرصتونه راوړي، خو ورسره نوې فکري او اخلاقي ننګونې هم پیدا شوې دي. هغه ارزښتونه چې پخوا د کورنۍ، ښوونځي، جوماتونو او ټولنې له لارې نسل په نسل انتقالېدل، اوس له ګڼو نویو اغېزو سره مخ دي.

اسلام د ارزښتونو ساتنې ته ځانګړې اهمیت ورکړی دی. الله تعالی فرمایي: (إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالإِحْسَانِ) (النحل: ٩٠). په دې لنډ آیت کې عدالت، احسان او نېک چلند د سالمې ټولنې د مهمو ځانګړتیاوو په توګه یاد شوي دي. دا الهي لارښوونه څرګندوي چې د ټولنې پرمختګ یوازې له مادي امکاناتو سره نه تړل کېږي؛ اخلاقي ارزښتونه هم د هغې د ثبات او سوکالۍ مهمه برخه جوړوي.

د رسول الله ﷺ ژوند هم د ارزښتونو د عملي کولو روښانه بېلګه وړاندې کوي. رښتینولي، امانتداري، وفاداري، زغم، عدالت او د انسان درناوی هغه ځانګړتیاوې وې چې د اسلامي ټولنې د پیاوړتیا سبب شوې. له همدې امله رسول الله ﷺ وفرمایل: «إِنَّمَا بُعِثْتُ لِأُتَمِّمَ مَكَارِمَ الْأَخْلَاقِ»؛ یعنې: «زه د غوره اخلاقو د بشپړولو لپاره رالېږل شوی یم.» دا حدیث ښیي چې اخلاقي ارزښتونه د اسلامي فکر مهمه برخه ده او د ټولنې د اصلاح لپاره اساسي اهمیت لري.

نننۍ ټولنه د معلوماتو له بې‌ساري پراختیا سره مخ ده. هره ورځ میلیونونه پیغامونه، انځورونه او نظریات د خلکو تر سترګو رسېږي. دا پراخ جریان د انسان د فکر پر جوړېدو اغېز کوي. که د معلوماتو د ارزونې وړتیا موجوده نه وي، انسان د هرې خپرېدونکې مفکورې تر اغېز لاندې راتلای شي. له همدې امله انتقادي فکر، علمي تحلیل او د حق او باطل ترمنځ د توپیر وړتیا د معاصر انسان مهمه اړتیا ده.

کورنۍ د ارزښتونو د روزنې لومړنی ځای دی. ماشوم د ژوند لومړني درسونه له خپلې کورنۍ زده کوي. د مور او پلار چلند، خبرې او عمل د ماشوم د شخصیت په جوړېدو کې ژور اغېز لري. که په کورنۍ کې صداقت، متقابل درناوی، مسؤولیت او علم ته ارزښت ورکړل شي، هماغه ځانګړتیاوې راتلونکی نسل هم خپلوي. برعکس، که بې‌پامي، تاوتریخوالی او بې‌باوري حاکمه وي، اغېزې یې د ټولنې تر کچې رسېږي.

ښوونیز بنسټونه هم د ارزښتونو په انتقال کې مهم رول لري. ښوونځي او پوهنتون یوازې د معلوماتو د لېږد ځای نه دی؛ د شخصیت جوړونې، مسؤولیت‌پالنې، همکارۍ او قانون ته د درناوي چاپېریال هم دی. هغه ټولنې چې علم او اخلاق یو ځای روزي، د دوامدار پرمختګ لپاره ښه زمینه برابروي.

رسنۍ او ټولنیزې شبکې د معاصر انسان د فکر په جوړولو کې پراخ اغېز لري. مثبتې رسنۍ د پوهاوي، علم او سالمو ارزښتونو د خپرېدو وسیله ګرځي. په مقابل کې، ناسم معلومات، افراط، دروغ او بې‌مسؤولیته محتوا د ټولنې پر فکري فضا منفي اغېز پرېږدي. له همدې امله درسنیو مسؤولیت او د خلکو د رسنیز سواد لوړول د وخت مهمه اړتیا ده.

اقتصادي بدلونونه هم د ارزښتونو پر جوړښت اغېز کوي. کله چې مادي سیالي د انسان د ژوند یوازینۍ هدف وګرځي، د همکارۍ، قناعت او ټولنیز مسؤولیت احساس کمزورېږي. خو هغه اقتصاد چې له امانتدارۍ، عدالت او مشروع کسب سره مل وي، د خلکو ترمنځ باور زیاتوي او ټولنیز ثبات پیاوړی کوي.

تاریخ ثابتوي چې تمدنونه هغه وخت د زوال له ګواښ سره مخ شوي چې اخلاقي کمزورتیا، بې‌عدالتي او فکري ګډوډي پکې پراخه شوې ده. په مقابل کې، هغه ټولنې چې علم، عدالت، نظم او سالم ارزښتونه یې ساتلي، د اوږدې مودې لپاره یې د پرمختګ فرصتونه هم خوندي کړي دي. اسلامي تمدن د خپلې زرینې دورې پر مهال د علم، اخلاقو او عدالت ترمنځ همغږي رامنځته کړه او همدې ځانګړتیا یې د نړۍ په بېلابېلو برخو اغېز پرېښود.

د معاصرې نړۍ د بدلونونو پر وړاندې د سالم دریځ غوره کول د انکار او یا بې‌قید منلو په معنا نه دي. عقل داغوښتنه کوي چې د علم، ټکنالوژۍ او نوښت له ګټو څخه استفاده وشي، ور سره هغه ارزښتونه هم وساتل شي چې د انسان کرامت، کورنۍ، ټولنیز باور او اخلاقي مسؤولیت خوندي کوي. همدا توازن د یوې سالمې او پرمختللې ټولنې مهمه ځانګړتیا ده.

د ارزښتونو بدلون د زمانې طبیعي بهیر دی؛ خو د هر بدلون منل د عقل او حکمت غوښتنه نه ده. ملتونه هغه وخت خپل هویت، ثبات او پرمختګ ساتلای شي چې خپل اصیل اخلاقي او دیني ارزښتونه ژوندي وساتي، علم او ټکنالوژي د خیر لپاره وکاروي او راتلونکی نسل د پوهې، مسؤولیت او سالم فکر له لارې وروزي. همدا لاره ټولنه د متوازن پرمختګ، فکري ثبات او دوامدارې سوکالۍ پر لور بیایي.

د صادراتو زیاتوالی؛ د اقتصاد د ودې مهم فرصت

احمد ولید کنان

د نړۍ اقتصادي تاریخ دا حقیقت په څرګند ډول ثابت کړی چې د ملتونو سوکالي له تولید، سوداګرۍ او نړیوالو بازارونو سره ژوره اړیکه لري. هر هغه هېواد چې خپل تولیدات له کورني بازار څخه بهر د نورو هېوادونو بازارونو ته ورسوي، د اقتصادي ودې لپاره نوې لارې پرانیزي، د پانګونې چاپېریال پیاوړی کوي او د کارموندنې فرصتونه زیاتوي. له همدې امله صادرات د اقتصاد هغه برخه ده چې اغېزې یې د صنعت، کرنې، سوداګرۍ، ټرانسپورټ، بانکدارۍ او د خلکو پر ورځني ژوند په څرګند ډول لیدل کېږي.

اقتصاد هغه مهال چټک پرمختګ کوي چې تولیدوونکي د خپلو محصولاتو لپاره پراخ بازار ومومي. که د تولید ټول مقدار یوازې په کورني بازار کې وپلورل شي، د ودې اندازه به محدوده پاتې شي. برعکس، نړیوال بازارونه د تولید زیاتوالي، د نویو فابریکو د جوړېدو او د پانګې د دوران لپاره پراخ فرصتونه برابروي. همدې واقعیت ډېر هېوادونه دې ته هڅولي چې د صادراتو د پراختیا لپاره ځانګړې ملي تګلارې جوړې کړي او د خپلو تولیداتو کیفیت د نړیوالو معیارونو تر کچې ورسوي.

د صادراتو ارزښت د بهرنیو اسعارو تر ترلاسه کولو پورې محدود نه دی. هر محصول چې نړیوال بازار ته رسېږي، د هغه هېواد د تولیدي وړتیا، تخنیکي کچې او سوداګریز اعتبار استازیتوب کوي. نړیوال بازارونه لوړ کیفیت، معیاري بسته‌بندي او د باور وړ عرضه غواړي. کله چې تولیدوونکي د همدې شرایطو د پوره کولو هڅه کوي، د صنعت کیفیت هم ورسره لوړېږي او د سیالۍ وړتیا پیاوړې کېږي. په همدې ډول صادرات د اقتصادي اصلاحاتو او صنعتي پرمختګ لپاره عملي هڅونه رامنځته کوي.

اسلام مشروع تجارت د انساني ژوند د طبیعي اړتیاوو له مهمو وسیلو څخه ګڼي. الله تعالی فرمایي: (فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ فَانتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِن فَضْلِ اللَّهِ) (الجمعة: ١٠) یعنې: «کله چې لمونځ پای ته ورسېږي، په ځمکه کې خپاره شئ او د الله له فضل څخه روزي ولټوئ.»

دغه الهي لارښوونه کار، تولید او مشروع سوداګري د انسان د ژوند له عادي او ارزښتناکو چارو څخه معرفي کوي. رسول الله (ص) هم په خپلو معاملو کې د رښتینولۍ، امانتدارۍ او شفافیت داسې بېلګه وړاندې کړه چې د مکې سوداګرو ورته د «الصادق» او «الأمین» لقب ورکاوه. همدغه اخلاق وروسته د اسلامي سوداګرۍ د پراختیا مهم لامل وګرځېدل. د اسلامي تمدن د زرینې دورې یوه مهمه ځانګړنه پراخ نړیوال تجارت و. مسلمان سوداګر د هند، چین، مرکزي اسیا، افریقا او اروپا تر بازارونو پورې ورسېدل. د سوداګرۍ له لارې یوازې مالونه نه لېږدېدل؛ علم، فرهنګ، مهارتونه او نوې تجربې هم له یوه ځایه بل ځای ته انتقالېدې. همدې اړیکو د اسلامي تمدن اقتصادي ځواک زیات کړ او د ګڼو ښارونو د ودې لامل شول.

د صادراتو پراختیا د کارموندنې لپاره هم پراخ فرصتونه رامنځته کوي. کله چې د یوه هېواد تولید زیاتېږي، فابریکې خپلو فعالیتونو ته پراختیا ورکوي، کرنیز تولید لوړېږي، د ټرانسپورټ اړتیا ډېرېږي او د لوژستیک، بسته‌بندۍ، زېرمه کولو او بازارموندنې په برخو کې نوي فرصتونه پیدا کېږي. دا ټول بهیر د بېکارۍ په کمولو او د خلکو د عاید په لوړولو کې اغېزمن رول لري.

کرنیز محصولات د افغانستان لپاره ځانګړی ارزښت لري. تازه مېوې، وچه مېوه، زعفران، جلغوزي، طبیعي بوټي او نور کرنیز تولیدات په نړیوالو بازارونو کې ښه شهرت لري. که د دغو محصولاتو د ساتنې، پروسس، معیاري بسته‌بندۍ او لېږد لپاره لازمې اسانتیاوې پراخې شي، د صادراتو اندازه به لوړه شي او د کروندګرو اقتصادي وضعیت به هم ښه والی ومومي.

صنعت هم د صادراتو د دوامدارې ودې مهم شرط دی. خام مواد د پروسس له لارې ډېر ارزښت پیدا کوي. د بېلګې په توګه، د کرنیزو محصولاتو پروسس، د خوراکي توکو صنعت، د غالیو تولید، د قیمتي ډبرو معیاري پروسس او د لاسي صنایعو پراختیا کولای شي د صادراتو ارزښت څو چنده لوړ کړي. د نړۍ بریالۍ تجربې هم دا ښیي چې صنعتي پرمختګ او صادرات یو بل پیاوړي کوي.

افغانستان د جغرافیایي موقعیت له امله هم مهم اقتصادي فرصتونه لري. د مرکزي اسیا، جنوبي اسیا، منځني ختیځ او چین ترمنځ موقعیت د دې امکان برابروي چې هېواد د سیمه‌ییزې سوداګرۍ او ترانزیټ په مهم مرکز بدل شي. هره نوې سوداګریزه لار، هر نوی ترانزیټي دهلېز او هره اسانه ګمرکي پروسه د صادراتو د پراختیا لپاره نوی فرصت رامنځته کوي.

د صادراتو زیاتوالی د تصادف پایله نه وي. دا بهیر روښانه اقتصادي تګلارې، د خصوصي سکتور ملاتړ، د تولید کیفیت، د قانون حاکمیت، د پانګونې مناسب چاپېریال او د نړیوالو بازارونو د اړتیاوو د سم درک غوښتنه کوي. هره برخه چې پیاوړې شي، د صادراتو د ودې لپاره نوې زمینه برابروي، او د اقتصاد د پرمختګ بهیر لا چټک کېږي.

د پاکستاني کرایګر پوځ دبدو کړنو بدې پایلې

سلطان محمود سالمزی

په نړۍ کې د حکومتونو او سیاسي نظامونو مهم ډولونه. اول اسلامي نظام: اسلامي نظام د اسلامي شریعت او اسلامي اصولو پر بنسټ اداره کیږي. دوهم جمهوري نظام: چې په هغې کې خلک د ټاکنو له لارې خپل مشران ټاکي. دریم سلطنتي نظام: چې په هغې کې پاچا یا ملکه د دولت مشري کوي چې ځیني سلطنتونه مطلق او ځیني مشروطه وي. څلورم صدارتي نظام: چې په هغې کې ولسمشر د حکومت او دولت مشري کوي. پنځم پارلماني نظام: چې په هغې کې حکومت د پارلمان له اکثریت څخه رامنځ ته کیږي او لومړی وزیر یې مشري کوي. شپږم پوځي حکومت: چې په هغې کې د کودتاه یا بلې لارې واک ترلاسه کوي. اووم یو ګوندي نظام: چې په هغې کې یوازې یو ګوند د واک حق لري، دا چې حکومتونه د چا لخوا رامنځ ته کیږي دا د هر هېواد اساسي قانون او سیاسي جوړښت پورې اړه لري. په جمهوریتونو کې عموما حکومتونه د خلکو د رایو له لارې رامنځ ته کیږي. په سلطنتي حکومتونو کې د شاهي کورنۍ لخوا او په ځینو هېوادونو کې د انقلاب، جګړې او یا کودتاه له لارې؛ خو زموږ په اند زیاتره پوځي او کودتاه یې نظامونه د نړیوالو استکباري او استعماري قوتونو له لوري چې د یوه کرایګر پوځ او

اجرتي قاتلانو په توګه د خپلو بادارانو له اوامرو سرغړونه نشي کولی، نړیوال استکبار د خپلو شومو موخو لپاره د اقتدار تر ګدۍ رسولي وي، چې حتی په خپل ملت هم رحم نه کوي او د هغه نقشو تطبیق غواړي چې بادار یې ورته امر کوي. په اوسني وخت کې یې اکثریت اسلامي هېوادونه دي، چې د مسلمانانو په خلاف او د غربي او شرقي استعمار په ګټه تري کار اخیستل کیږي. د بېلګې په توګه زموږ ګاونډي پاکستاني پوځي رژیم چې د اسلام تر نامه لاندې یې خپل بې ګناه پاکستاني بلوڅ او پښتانه مسلمانان په خپلو وینو ولمبول. په لسګونو مدرسې یې په بې رحمانه توګه بمبار کړې. په سلګونو دیني علما کرام او په زرګونو تنکي او ګلالي طالب العلمان یې په شهادت ورسول. شیخ القرآن و الحدیث مولانا حسن جان، شیخ القرآن والحدیث مولانا سمیع الحق، مفتي منیر شاکر صیب، مولانا خانزیب او داسې نور او همدارنګه په زرګونو نور پښتانه او بلوڅ مشران لکه عمران خان، علي وزیر، ماه رنګ بلوڅ او د سې نور په سلګونو او زرګونو د پنجابي پوځي اجیرو جنرالانو له لوري په زندانونو کې د تعذیب او شکنجو لاندې دي. بیا د دغه ټولو بدبختیو پړه پر افغانانو اچول او دا پرله پسې څلور لسیزې زموږ په کورنیو چارو کې د هغوی بر بنده مداخله او لاسوهنه اوحتی زموږ د بې ګناه ملکي وګړو بمبارول او په شهادت رسول دا ټول هغه څه دي چې شاید د پاکستاني پوځي رژیم د غرور او تکبر بنیادي ستنې راونړوي او د پښتنو، بلوڅو او کشمیري مسلمانانو لپاره د یو انقلاب او بدلون زیری له ځان سره ولري.

په همدې هیله!

له نیشه ی توکو سره د مبارزې د اونۍ په مناسبت

په هېواد کې د کوکنارو د کرکيلې په صفر کېدو بيا هم د نېشه يي توکو مافيا لاس تر زنې نه ده ناسته

حيات الله حليم

دا يو ښکاره حقيقت دی چې د اسلامي امارت په راتګ سره د کوکنارو کښت په افغانستان کې د صفر لورته تقرب وکړ، چې په نتيجه کې يې د نيشه ی توکو د کارباريانو (نړيوالې مافيا) عايد هم په تدريجي ډول کم او يا له منځه يوړل؛ خو دغه چالاکه کړۍ بيا هم لاس تر زنې کې نه ناستې او سم دلاسه د بديلو نيشه يي توکو په لټه کې شول څو وتوانېدل د کوکنارو د محصولاتو (هېروئينو، غمزې، خام خوړلو) پرځای يې په لاندې ډول ترمخکنيو خطرناک نېشه يي توکي د معتادانو خدمت ته وړاندې کړي دي.

۱ـ مفيتامين (شيشه) چې ترټولوخطرناک کمياوي نېشه يي مواد ثابت شوي دي، په دوو ډولونو د متقاضيانولاس ته رسېږي، لومړی دا ماده له بهرنيو هېوادونوڅخه په قاچاق افغانستان ته راځي چې خطرناکه نېشې بڼه لري او دويم ډول يې اوس مافيا يې کړۍ په کور دننه د دې توکي په جوړولو توانېدلې، ځکه خطرناک خام مواد يې له بهرڅخه راځي او نورضمني اومه مواد يې په کورد ننه پيدا کېږي او دومره خطرناکه ماده ترې جوړېږي چې په يوځل استعمال يې سړی معتاد کېږي. اعتياد يې هم دومره خطرناک دی، چې په لنډه موده کې له معتاد نه، ژوندی هېڅ جوړوي، ځکه ترهرڅه لومړی د دماغ حجرې له منځه وړي او وروسته نه يوازې دا چې انسان کمزوری کوي، بلکې د مختلفو رواني ناروغيو سره يې هم مخ کوي، د افغانستان په ښارونو او کليو کې اوس دا توکی د پخوانيو نېشه توکو (کوکنارو د محصولاتو) پرځای ترټولوخطرناک بديل موندل شوی دی.

۲ـ د K (د راما) ډوله تابليتونه دي چې د عادي ګوليوپه بڼه پيدا کېږي اوخرڅېږي. کله چې وپېژندل شي او ممانعت پرې راشي، نو سم دلاسه يې فزيکي بڼې ته بدلون ورکول کېږي او په عوضي بڼه بازار ته عرضه کېږي. په دغه ګوليو ځوانان ډېر ژر روږدي کېږي او اکثره له نږدې ګاونډيوهېوادونو څخه په قاچاق افغانستان ته راځي، عام خلک فکر کوي چې دا درمل دي؛ خو په حقيقت کې درمل نه، بلکې هغه خطرناک مخدره مواد دي چې زړه، اعصاب او روان له سخت تخريب سره مخ کوي. نه يوازې دا توکي چې په ظاهره د درمل په بڼه افغانستان ته را ځي، بلکې راپوروڼه ښيي هغه نصوار چې له بهر څخه راځي په ترکيب کې يې هم دا په غم ککړه خطرناکه ماده ګډه وي چې ورو- ورو داسې غيرمستقيم اعتياد رامنځ ته کوي چې په پيل کې څوک پرې نه پوهېږي. دا د اعتياد ترټولو خطرناک چل دی، ځکه عام خلک يې د نېشې په توګه نه پېژني، بلکې د عادي نصوارو په بڼه يې د پخوا په څېر استعمالوي، نه يوازې تابليت او نصوار بلکې مافيايي کړيو دا پروسه د ټوخي د کنټرول او قوت په نوم شربت ته هم غځولې چې په دې توګه يې د مافيا د نوی مارکيټ بڼه يې خپله کړې ده.

د نېشو دا بديل د هر ډول ممکنې وسيلې ياني هر جنس په بڼه جوړېږي او استعمالېږي چې په پيل کې ارزانه او پرېمانه وي، زياتره د ملګرتيا له لارې په نابلدو کسانو تطبيق کېږي، لوی خطر يې دا دی چې ډېر ژر اعتياد رامنځ ته کوي او درملنه يې هم بيا ډېره سخته وي، ځکه د بدن سيستم داسې ګډوډ کوي چې لومړي حالت ته را ګرځېدل يې ستونزمن وي. تر ټولو مهم دا چې د K تابليت د نېشې د قوي موادو د استعمال له وجې د سرطان سبب هم کېږي.

حاصل د کلام دادی چې د کوکنارو له کمښت سره نېشې کمې نه شوې، بلکې بڼه يې بدله شوه، ځکه نن د کوکنارو د محصولاتو ځای داسې خطرناکو کمياوي موادو نيولی چې په مصنوعي ډول جوړېږي او زموږ ځوانان ورو ورو له منځه وړي.

نېشې نه يوازې يو فردي جرم دی، بلکې نېشې کورنۍ تباه کوي، که چېرې د کومې کورنۍ ډوډۍ را وړونکی په نېشه يي توکو روږدي شي، هغه خو بيا د کورنۍ په کيسه کې نه کېږي، ځکه په خپلو نېشو فکر کوي د پيسو د پيدا کولو لپاره د خپلو اولادونو په پلورو وهم بسنه نه کوي، چې ډېر ځايه دا پېښې ليدل شوې هم دي. د کورنۍ او اولادونو په مقابل کې نېشې د دوی عاطفه په کلکه له منځه وړي، نه يوازې عاطفه بلکې نېشې ايمان هم کمزوری کوي، عقل له منځه وړي، له معتاد نه غلام جوړوي، غلا او جرم ته يې اړباسي، د کورنۍ ښيرازي شړوي، ځوانان د تدريجي مرګ کندې ته سپاري، لنډه دا چې نېشه قوت نه، بلکې کمزوري او تباهي ده.

خو سپارښتنه داده چې د مخنيوي لپاره يې کانګريټي تدابير وسنجول شي، ځوانانو ته د پوهاوي تمرينونه ورکړل شي، د مشکوکو ګوليو، په پاکټو کې په نازله بسته بندي شويو نصوارو له استعمال هم ډډه وشي، د ډاکټر له نسخې پرته په خپل سر بازاري درمل استعمال نشي، د کورنۍ د مشر لخوا د کورنۍ د کشرانو څارنه وشي، د نېشه يي توکو پلورنکي او کارباريان افشآ او امنيتي مسؤلينو ته په لاس ورکړل شي، د نېشو د اضرارو په اړه د علماوو په ذريعه د ممبرونو له لارې د نېشه يي توکو د اضرارو په اړه وعظ او اصلاحي بيانونه وشي. همدارنګه په مدرسو اوښوونځيو کې هم د ښوونکو او مدرسينو لخوا د دې ضررناکو توکو د عدم استعمال په اړه پراخه تبليغات وشي، په محل کې د سپين ږيرو او مخورو لخوا هم د ځوانانو څارنه وشي. ځکه يو شمېرافغان دښمنې کړۍ غواړي افغانان د نېشو له لارې کمزوري کړي، څو په دې توګه دوی ژر خپلو موخو ته ورسېږي.

نېشې عقل ذايل کوي، رسول الله مبارک څومره ښه فرمايلي دي، هر څه چې عقل پټ کړي، هغه حرام دي، نېشې؛ خو په ښکاره عقل کمزوری کوي او استعمالونکي د موقتي جنون حالت ته بيايي، چې د دې جنون اغېز په بدن کې حتمي پاتې کېږي او ورو ورو د معتاد شخصيت نېمګړی کوي. په انساني ژوند کې نېشې د شرابو له استعمال څخه را پيل شوې چې تاريخچه يې د بشريت له پيدا ښت سره مصادف کېږي.

میوه تازه افغانستان؛

برند در حال درخشش در بازار های جهانی

محمد یعقوب

صادرات میوه تازه کشور به بازارهای جهانی، یکی از سودآورترین و در عین حال حساس‌ترین بخش‌های تجارت زراعتی می باشد؛ که نیازمند رعایت استندردهای دقیق کیفیت، بسته‌بندی مناسب و مدیریت همه مراحل به شمول استفاده از وسایل‌سرد کننده‌می‌باشد. از کلیدی‌ترین مراحل و الزامات برای ورود موفق میوه های تازه کشور به بازارهای جهانی، می توان نوشت: نخست برای جلب اعتماد خریداران خارجی و عبور از مرزها الزامی است؛ چون میوه‌های تازه محصولاتی فساد پذیر اند، استفاده از کانتینرهای یخچال‌دار با قابلیت تنظیم دقیق دما و رطوبت از مزرعه تا مقصد نهایی برای جلوگیری از افت کیفیت حیاتی می باشد. دوم بسته‌بندی مناسب؛ بسته‌بندی ها ضمن محافظت از میوه در برابر ضربه، باید دارای تبادل و گردش هوا مناسب نیز باشد. امروزه استفاده از بسته‌بندی‌های نان و اتمسفر اصلاح‌شده « هوای تغییر داده شده داخل بسته » برای افزایش ماندگاری میوه‌ها بسیار رایج شده است. سوم تحقیقات بازار و بازاریابی؛ شناخت نیازهای بازار ها مانند تقاضا برای میوه‌های ارگانیک در اروپا یا استندردهای سخت‌گیرانه در کشورهای حاشیه خلیج فارس و آسیا، به تعیین استراتیژی قیمت گذاری‌کمک‌می کند.

صادرات میوه های تازه یک بخش حیاتی در اقتصاد زراعتی به شمار می‌رود، که می‌توانند نقش مهمی در تأمین درآمد ارزی، ایجاد فرصت‌های شغلی و رشد اقتصادی کشور ایفا کند. ظرفیت بالا در تولید انواع میوه‌های مرغوب، افغانستان توانسته است به‌طور کامل از ظرفیت و قابلیت بالا بلندی در صادرات میوه‌های‌تازه‌بهره‌مندباشد. افغانستان از کشورهای زراعتی منطقه به شمار می‌رود، که اقلیم مناسب و زمین‌های حاصلخیز آن زمینه تولید انواع میوه‌جات تازه را فراهم ساخته است. کشور ما با داشتن محصولات مرغوبی مانند انار، انگور، سیب، زردآلو و دیگر میوه‌ها ظرفیت بالایی برای حضور در بازارهای جهانی دارد. وجود این چین ظرفیت ها و فراهم آوری امکانات بیشتر، می تواند صادرات میوه های تازه به خارج از کشور بگونه چشمگیری افزایش یابد.

چنانچه که اخبار گردیده است، مسوولان هموار در تلاش اند تا صادرات میوه های تازه کشور را به سطح خیلی‌بلندومطلوب‌برسانند. در شرایطی که کشور با مشکلات اقتصادی، بیکاری گسترده و کمبود منابع ارزی مواجه است، صادرات میوه‌جات تازه می‌تواند یکی از راه‌های مؤثر برای تقویت اقتصاد ملی و ایجاد اشتغال باشد.

چنانچه وزارت صنعت و تجارت امارت اسلامی مدتی می شود که روند صادرات میوه تازه به بازارهای جهانی را آغاز کرده است. سخنگوی این وزارت یاد آور شده بود که آنان تلاش دارند، برای میوه‌های تازه کشور بازاریابی خوب و موثری در سطح جهان داشته باشند تا از این طریق بتوانند میوه تازه را به قیمت مناسب به بازارهای جهانی عرضه کنند.

از سویی هم، اتاق زراعت ومالداری گزارش کرده بود: هر قدر مشکلات در بخش صدور ویزه از سوی کشورها به تاجران افغان سهل تر گردد، می توانند محصولات بیشتری را صادر کنند.

مسوول روابط خارجی اتاق زراعت ومالداری گفته بود: در بخش بسته‌بندی و سردخانه‌ها سرمایه‌گذاری شده و این توانایی را داریم که این بسته‌بندی را براساس معیارهای جهانی به اروپا، امریکا و... تنظیم نموده و صادر کنیم.

در ضمن مسوولان در اتاق تجارت و سرمایه گذاری کشور گفته اند: آنان سعی و تلاش دارند، تا برای افزایش صادرات میوه تازه افغانستان، از مسیر اوزبیکستان، به بازارهای جهانی دستاورد های مثمری هم داشته باشند.

چنانچه در این اواخر رییس اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری افغانستان در دیدار با والی سیردریای اوزبیکستان، راه‌های گسترش همکاری‌های اقتصادی، افزایش سرمایه گذاری‌های مشترک و توسعه روابط تجاری میان دو کشور را مورد بحث و بررسی قرار داد.

اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری کشور، با پخش خبرنامه‌یی، خبر داده است که در این دیدار، دو طرف درباره سرمایه‌گذاری مشترک در بخش‌های تولید کود کیمیایی و صنعت نساجی، توسعه مبادلات تجاری و ایجاد فرصت‌های جدید همکاری اقتصادی گفتگو کردند.

همچنان، بر تقویت همکاری‌ها برای افزایش صادرات میوه‌های تازه افغانستان از طریق اوزبیکستان به بازارهای منطقه و جهان تأکید گردید.

به باور آگاهان، هرگاه میوه تازه و دیگر محصولات افغانستان به‌گونه منظم به بازارهای منطقه و جهان صادر شود، عواید ملی کشورافزایش‌خواهدیافت.

درهمین حال، حاجی عبدالبصیر یکی از تاجران میوۀ تازه و سبزیجات می گوید: به دلیل کمبود سردخانه‌های معیاری و بازارهای نامناسب حاصلات دهاقین به سر سرک با قیمت بسیار ناچیز به فروش می ر سد .

او با اشاره به اهمیت سردخانه‌ها گفت: در فصل که ما تولید زراعتی نداشته باشیم، انواع میوه و سبزی که وارد کشور می گردد، به قیمت گزاف به دسترس مستهلک قرار می گیرد. تعداد کمی سردخانه های که وجود دارد، به دسترس همه به ویژه در دسترس دهقان قرار ندارد. نیاز است تا مسوولان در افزایش سردخانه‌های معیاری سعی و تلاش بیشتر و متداوم داشته باشند.

به دلیل جنگ‌های گذشته، کار های اساسی و در خور توجه صورت نگرفته بود، کشور ما اکنون به کارهای بنیادی بیشتری نیاز دارد. ولی نباید از تلاش های خستگی ناپذیر مسوولان امارت اسلامی در این راستا چشم پوشی نمود. آنان در مدت کوتاه، کار های خیلی بزرگ و بلندی را انجام داده اند.

برای نگهداری محصولات زراعتی نیاز است، تا بیشتر کار صورت گیرد. زیرا همه ساله به دلیل کمبود سردخانه‌های معیاری، مقدار زیاد محصولات زراعتی و باغداری دهاقین و باغداران فاسد می گردد.

در نهایت با توجه به نیاز شدید به رشد و رونق بیشتر اقتصاد زراعتی کشور، به منابع ارزی و اشتغال‌زایی، بررسی دقیق وضعیت صادرات میوه های تازه و نقش آن در شگوفایی اقتصاد افغانستان، اولویت داده شود.

د عرش د سیوري مستحقین

احمد یاسین زعیم - (دویمه برخه)

۱-- عادل واکمن:
د هغو نېکمرغه انسانانو له ډلې څخه چې د قیامت په سخته ورځ به د الله تعالی د ځانګړي رحمت او عرش تر سیوري لاندې ځای ولري، لومړی مقام د هغه عادل واکمن دی، چې د واکمنۍ پر مهال د الله تعالی د شریعت له مخې د خپلو رعیتونو ترمنځ د عدل تله برابره ساتي. هغه د واک له نعمت څخه د ظلم لپاره نه، بلکې د حق د پلي کولو، او د ظالم د مخنیوي لپاره ګټه اخلي.
عادل واکمن هغه دی، چې پر هېچا ظلم نه کوي او نه هم اجازه ورکوي چې د ده تر واک لاندې چارواکي، وزیران، قاضیان او نور مسؤلین د خلکو پر حقوقو تېری وکړي. هغه په خپلو ټولو ادارو کې د عدالت رامنځته کوي او خپلو ټولو کار کوونکو ته سپارښتنه کوي چې د الله تعالی له وېرې سره سم خپلې دندې ترسره کړي.
د حدیث په متن کې له «الإمام» څخه یوازې د یو هېواد مشر نه دی مراد، بلکې هر هغه څوک چې د خلکو د چارو او واک اختیار لري؛ لکه قاضیان، والیان، وزیران، د ادارو مسؤلین، د کورنۍ سرپرستان او هر هغه څوک چې د بل چا د حق او مسؤلیت بار ور تر غاړې شوی وي.
او «العادل» هغه څوک دی چې د افراط او تفریط له دواړو لارو ځان ساتي، نه د خپل نفس او نه د خلکو د خوشحالولو لپاره حق قرباني کوي، بلکې هره پرېکړه یې د الله تعالی د شریعت له مخې وي.الله تعالی حضرت داود علیه السلام ته، چې هم نبي و او هم پاچا، داسې فرمایي:
ژباړه: اې داوده! بېشکه موږ تا په ځمکه کې خلیفه ګرځولی یې، نو د خلکو ترمنځ په حق پرېکړه کوه او د نفس غوښتنو پسې مه ځه، ځکه چې هغه به دې د الله له لارې بې لارې کړي.
په دې الهي لارښوونه کې دوه ستر اصول بیان شوي دي: لومړی دا چې هره پرېکړه باید د شریعت پر بنسټ وي او دوهم دا چې د نفس غوښتنې، شخصي ګټې او خپلوي باید د قضاوت پر مهال هېڅ اغېز ونه لري. ځکه چې کله انسان د حق پر ځای د خپل خواهشات او مالي ګټې په نظر کې ونیسي، نو عدالت له منځه ځي، حق تر پښو لاندې کېږي او ظلم رامنځته کېږي. همدا ظلم د ټولنې د فساد ستر لامل ګرځي.
همدغه الهي اصل الله تعالی خپل وروستي پیغمبر حضرت محمد ﷺ ته هم فرمایي
ژباړه: نو ته د دوی ترمنځ د الله د نازل شویو احکامو له مخې پرېکړه وکړه او د دوی د خواهشاتو پیروي مه کوه، وروسته له دې چې حق تا ته راغلی دی.(المائده ۴۹)
دا حکم یوازې د رسول الله ﷺ لپاره نه دی، بلکې د هغه د امت لپاره هم لارښود دی. هر څوک چې د خلکو د چارو مسؤلیت پر غاړه لري، باید د خپلې پرېکړې بنسټ د الله تعالی پر حکم کېږدي، نه د خلکو پر غوښتنو او نه هم د خپلو شخصي ګټو پر بنسټ.
الله تعالی ټولو مؤمنانو ته په ښکاره ډول امر کوي:
ژباړه: بېشکه الله تعالی تاسې ته امر کوي چې امانتونه خپلو مستحقینو ته وسپارئ او کله چې د خلکو ترمنځ پرېکړه کوئ، نو په عدالت سره یې وکړئ. بېشکه الله تعالی تاسې ته ډېر غوره نصیحت کوي.
(النساء ۵۸)
د دې آیت له مخې، عدالت یوازې د محکمو او حکومتونو مسؤلیت نه دی، بلکې هر هغه څوک چې د خلکو ترمنځ مشرتوب یا مسؤلیت لري، د عدالت په مراعتولو مکلف دی.
د عدالت مقام دومره لوړ دی چې رسول الله ﷺ د عادلانو په فضیلت کې فرمایي:
بېشکه انصاف کوونکي به د الله تعالی په نزد د نور پر منبرو ناست وي، چې د رحمن د ښي لوري ته به وي او د الله دواړه لاسونه ښي دي. دا هغه کسان دي چې په خپلو پرېکړو، د خپلو کورنیو په حق کې او په ټولو هغو چارو کې چې مسؤلیت یې ورسپارل شوی و، عدالت یې کاوه.
دا ستر زېری یوازې د پاچاهانو لپاره نه دی، بلکې هر هغه انسان ته دی چې په خپل کور، اداره، محکمه، دفتر، ښوونځي او هر مسؤلیت کې د عدالت لاره خپله کړي.
خو د دې ترڅنګ رسول الله ﷺ د ظالمو او خیانت کوونکو واکمنانو لپاره سخت اخطار هم ورکړی دی:
هر هغه بنده چې الله تعالی د خلکو د پالنې مسؤلیت ورسپاري، بیا هغه په داسې حال کې مړ شي چې له خپلې رعیت سره یې خیانت او دوکه کړې وي، نو الله تعالی به پرې جنت حرام کړي.
دا حدیث هر هغه مسؤل ته یو ستر تنبیه ده چې د خپلې څوکۍ او واک څخه ناوړه ګټه اخلي، د خلکو حقونه تر پښو لاندې کوي، رشوت، او ظلم کوي.
په حقیقت کې عدالت د ټولنې د بقا او پرمختګ بنسټ دی. هره ټولنه چې عدالت پکې ژوندی وي، هلته د خلکو ترمنځ مینه او ورورولي ټینګېږي؛ خو چېرې چې ظلم او بې‌انصافي واکمنه شي، هلته د خلکو زړونه سره بېلېږي، فساد خپرېږي او د ټولنې د زوال لړۍ پیلېږي.
نو هر مسلمان، که واکمن وي او که عادي مسؤل، باید تل په یاد ولري چې د ده هره پرېکړه، هر حکم او هر مسؤلیت به یوه ورځ د الله تعالی په ستره محکمه کې حسابېږي. نېکمرغه هغه څوک دی چې په دنیا کې د عدالت لار خپله کړي، څو د آخرت په ورځ د الله تعالی د عرش تر سیوري لاندې د عزت خاوند وګرځي.
نور بیا...

د مظلومانو له وینو به نیل جوړ او فرعونیان به هلاک کړي

ضیاء الحق حسان

زموږ هېواد د امپراتوریو هدیره ده، دې هېواد ته چا چې په بده سترګه کتلي، داسې ګوزار یې خوړلی چې سپر قدرتونه یې صفر ته راښکته شوي دي، دا د زمریالیو ځاله ده، دلته انګریزي، روسي او امریکایي ښکیلاکونه مات شوي دي.له تېر کال راهیسې د زمریالیو په خاوره د دوهم اسرائیل (پاکستاني رژیم) له لوري څو ځله بریدونه وشول، د دې بریدونو هدف کوم نظامي ځای نه و، بلکه ملکي هېوادوال یې په نښه کړي دي. دوی په خپلو بریدونو کې ماشومان، سپین ږیري او ښځې په نښه کړې، د خپل برید هدف یې هم د ملکي خلکو هستوګن ځایونه وو، چې اسلامي او د دوی په اصطلاح بین المللي قوانین د جګړې په مهال هم په دې ځای بریدونو ته اجازه نه ورکوي.
پاکستان هغه هېواد دی چې قانون یې انګریز ورته وضعه کړی، دوی تل د خپلو ګټو په موخه د یرغلګر دښمن غلامان او د هغه په اشاره هر څه تر سره کوي، د تېر اشغال په مهال یې د ډالرو لپاره د ناټو یرغلګرو ځواکونو ته لار ورکړه، د دوی په سینه به د هېواد لور ته امریکایي اکمالات کېدل، دوی ته همدا لومړیتوب و، چې باید ډالر ورته ورسېږي، که څه هم د خپل مسلمان ورور په وینو ولې نه وي!
د تېر کال راهیسې یې داسې جنایات تر سره کړل چې تاریخ ترې شرمېږي، په امید روغتون برید، هغه تور داغ دی، چې تل به د دوی تندې پرې داغل کېږي، د دې جنایت شهیدان د لیلة القدر له ویاړ برخمن شول، دلته هغه کسان په نښه شول چې د تداوۍ په موخه راغلي وو، خو دوی د بارودو په اور لولپه کړل. انا لله وانا الیه راجعون.
د پاکستان له لوري بریدونه به بې ځوابه پاتې به نه شي، (یو چا سل کاله وروسته انتقام اخیستی و، بیا یې هم ویل بیړه مې وکړه) ان شاءالله د دوی بریدونه به بې انتقامه نه پاتېږي، دلته زمریالي اوسېږي، دوی د نړۍ سپر قدرتونو ته د سر په کاسه کې اوبه ورکړې، نو د هغه چا په وړاندې مقابله؛ خو بیا ډېره آسانه ده چې ټول عمر یې د غلامۍ تر چتر لاندې تیر دی، نه زر او نه زور لري.
کله یې هم له کوم چا کامیابي نه ده تر لاسه کړې، د پاکستان رژیم به ان شاءالله زر رانړېږي، ځکه له کفر سره حکومت چلېږي؛ خو له ظلم سره نه.
دوی دې د ځوابي بریدونو په انتظار اوسې، زر ده چې تر غوږ یې یو ځل بیا دا ناري ورسېږي، (وله یې مولوي صاحب!).
الله تعالی به دا ظالم رژیم زر رانړوي، د مظلومانو له وینو به خامخا یو وخت د نیل رود جوړېږي او د وخت فرعونیان به هلاکوي.

د دین روح

میا نور آغا حقاني دري څلوېښتمه برخه

تهذیب الأخلاق: په دې د ټولو عقلاؤ اتفاق دی چې د محسن شکرم او تعظیم نېک او حسن کار دی، بیا د داسې حقیقي محسن شکر چې د انسان وجود، کمالات او د ټولو نعمتونو خالق او ورکونکی دی، ادا کول د فرضیت درجه لري.
دا هم باید واضحه وي چې د داسې حقیقي محسن شکر باید په هغه طریقه سره ادا شي کومه، چې محسن تعینه کړي، له دې غیر بله طریقه به تمرد او په سرکشي یا هم خواهش پرستي کې حسابیږي، ځکه د محسن له هدایت خلاف تمرد او سرکشي ده. همدارنګه د هدایاتو په شتون کې د خپل خواهش مطابق لاره اختیارول خواهش پرستي ده، له دې سره د محسن علم په خپلې رضا باندې حضوري دی او بنده ته د الله تعالی له لارښونې د هغه د رضا معلومات نه کیږي، له دې امله باید له لارښونې سره سم عمل وکړي.
الله عزوجل د انسان د ټولو منافعو او نقصاناتو مالک دی، هر وخت نفع او نقصان ور رسولی شي، انسان چې څه لري ټول الله تعالی ورکړي، دی یې د عدم له تاریکو څخه د وجود صحرا ته را ویستلی دی، په مرګ او مجازات یې قادر دی، له همدې امله باید د الله عزوجل چې حقیقي محسن دي په هغه طریقه شکر ادا شي کومه چې ده د خپل رسول صلی الله علیه وسلم په واسطه سره ښودلې ده. همدا راز الله عزوجل قادر مطق ذات دی باید انسان د ده په رضا کولو کې تر خپل توان کوښښ وکړي او د ناتوانۍ په وخت کې باید عفوه او مغفرت ترې وغواړي.
الله تعالی خپله رضا او شکر په خپل جامع او کامل نظام کې نغښتې ده، یعنې الله عزوجل چې کوم جامع او کامل نظام د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم په واسطه خپلو بندګانو ته رالیږلی بندګان باید هغه د زړه له کومې په پوره اخلاص سره ومنې او په سمه توګه یې عملي کړي، هغه که د عقایدو باب وي، که د عباداتو او که د معاملاتو، که له د تهذیب الأخلاق (شخصي زندګي) اړوند وي، که د تدبیر المنزل(کورنۍ ژوند)، تدبیر مدن (د ښارونو زندګي) او که د خلافت کبری (عالمي زندګي) اړوند وي، باید په دې ټولو مجالونو کې بنده د الله تعالی نظام نافذ کړي او د نافذېدو کوښښ یې وکړي.
چونکې د عقایدو او حکمت نظري باندې مو مخکې بحث کړی دی، له عقایدو څخه وروسته دوهمه درجه کې (حکمت عملي کې) د تهذیب الأخلاق اړوند مسائل عبادات دي. بیا په عباداتو کې تر ټولو مهم عبادت په شریعت مطهر کې لمونځ دی، تر دې چې د مسلمان او کافر ظاهري فرق او جداوالی په لمونځ سره کېږي، قول او عمل دواړو ته شامل دی، له دې امله باید دلته د لمانځه حکمت او فلسفه ذکر کړو.دا باید واضحه وي چې دلته به په فقهي ډول مسائل نه ذکر کېږي، بلکې یوازې د حکمت او فلسفې په ډول به یې یادونه کیږي، الحمد لله مونږ په فقه کې عظیم ذخایر لرو چې هېڅ وچ او لامده ترې پاتې نه دي، بلکې ټول یې ذکر کړي.
همدارنګه د لمانځه له شرایطو څخه طهارت دی هغه مو هم په تېر بحث کې ذکر کړی.
لمونځ د تهذیب الأخلاق (شخصي صفاتو) له لویو او عظیمو صفاتو څخه دی؛ ځکه چې د لمونځ په واسطه د بنده تر ټولو مهمه او قوي رابطه چې له خپل رب سره رابطه ده جوړیږي، دا داسې د خلوص او یواز والي رابطه ده چې بنده له ټول عالم او کائناتو څخه زړه راټول کړي، یوازې خپل رب ته مخامخ شي، له ټولو کائناتو څخه ځان بې نیازه کړي او خپل حقیقي مولاته ټول حاجتونه په پوره عاجزي او ادب سره وړاندې کړي. ټول هموم او غمونه شاته وغورځوي او یوازېنی ارمان یې د خالق رضا وي. د تکبیر تحریمه په ویلو سره هغه کارونه چې لمونځ څخه بهر ورته جایز وو ټول بند کړي، د کمالي توجه له امله رب ته مخامخ د خطاب په کلماتو او صیغو خپل عرض وړاندې کوي. د رب له ثنا، حمد او کبریاء څخه وروسته بنده په جهر سره اقرار کوي: یوازې ستا عبادت کوو او یوازې له ستا څخه مرسته غواړو، بیا په هدایت باندې د استقامت عظیم سوال کوي، له ګمراهانو او د ګمراهۍ له انجام څخه په خپل رب فنا غواړي، چې کله له دې ورسته ځینې مقدس قرآني کلمات چې خامخا له حکمت نظري او یا له حکمت نظري پورې تعلق لري د تذکیر په ډول تلاوت کوي...
نور بیا...

کورونا او کووید ۱۹:

لابراتواري تولید و، که طبیعي آفت؟

عبدالهادي روان

د خپرو شوو اسنادو او مطرح شویو ادعاوو له مخې ویل کېږي چې امریکا په ۲۰۱۹ میلادي کال کې د کورونا ویروس اړوند څېړنو مالي ملاتړ کړی وه.

په دغو اسنادو کې راغلي «تولسي ګبارډ» چې د امریکا د ملي استخباراتو مشره وه، د خپلې دندې په وروستیو ورځو کې داسې اسناد او لیکونه خپاره کړي چې ادعا کېږي امریکا د کووید-۱۹ له ځینو اړوندو څېړنو سره مالي مرسته کړې وه.

د دغو ادعاوو له مخې، د امریکا د ساري ناروغیو مشهور متخصص او د حکومت پخوانی سلاکار «انتوني فاوچي» د مالیه ورکوونکو له پیسو څخه میلیونونه ډالر هغو څېړنو ته ځانګړي کړي وو چې «Gain-of-Function» یا «د فعالیت زیاتولو» په نوم یادېږي.

ویل کېږي چې دغه پروژې د چین د ووهان د ویروس پېژندنې په انسټیټوټ کې ترسره کېدې او ادعا شوې چې ښايي همدغو ازموینو د کووید-۱۹ ویروس د احتمالي لابراتواري خپرېدو سرچینه رامنځته کړې وي.

په هغه وخت کې هڅه وشوه چې د دې موضوع مسؤلیت یوازې پر چین ورواچول شي او اصلي واقعیت پټ وساتل شي.

همدارنګه ادعا شوې چې فاوچي او ځینو نورو چارواکو هڅه کړې وه چې د ویروس د طبیعي سرچینې نظریه پیاوړې کړي او هر هغه څوک چې د لابراتواري سرچینې احتمال یې مطرح کاوه، تر فشار لاندې راولي یا له مسلکي ستونزو سره مخ کړي.

ځینې استخباراتي شنونکي د خپلو نظرونو د څرګندولو له امله له ګواښونو سره مخ شوي او داسې هڅې شوې چې د درملو د لویو شرکتونو او ځینو سیاسي موخو د ګټو د ساتلو لپاره اصلي واقعیت پټ وساتل شي.

که چېرې دغه ادعاوې په راتلونکي کې ثابتې شي، نو د امریکا په سیاسي او اقتصادي جوړښتونو کې د قدرتي شبکو، سیاسي نفوذ او اقتصادي ګټو د اغېز یوه مهمه بېلګه به وبلل شي. ښايي په راتلونکو کلونو کې نور معلومات هم په دې اړه خپاره شي.

کارپوهان یادونه کوي چې د دغو ادعاوو خپرېدل د ډونالډ ټرمپ لپاره هم ځانګړې اهمیت او حساسیت لري، ځکه انتوني فاوچي د هغه د واکدارۍ پر مهال د عامې روغتیا له مهمو سلاکارانو څخه وه.

د روغتیا نړیوال سازمان د رسمي شمېرو له مخې، د ۲۰۱۹ کال له وروستیو څخه د ۲۰۲۴ کال تر پایه شاوخوا اووه میلیونه کسان د کووید-۱۹ په طاعون کې مړه شوي دي؛ خو ډېرې څېړونکي او خپله د روغتیا نړیوال سازمان باور لري، چې ربښتینې شمېر تر رسمي ارقامو لوړې دي، ځکه په ګڼو هېوادونو کې ټولې مړینې نه دي ثبت شوې.

ځینې اټکلونه ښيي چې ښايي د مړینو اصلي شمېر تر دې هم دوه برابره لوړ وي. آن ځینو کړیو هغه مهال ادعا کړې وه چې د کووید-۱۹ د واکسیناسیون بهیر پخپله د همدې مصنوعي ویروس د خپرېدو د دوام یوه هڅه وه او له همدې امله ځینو هېوادونو د بهرنیو واکسینونو له منلو او کارولو ډډه وکړه او د خپلو واکسینونو د جوړولو لپاره یې کار پیل کړ.

که د غیر رسمي مړینو اټکلونه په پام کې ونیسو، ځینې څېړنې ښيي چې تر ټولو ډېر تلفات ښايي په دغو هېوادونو کې شوي وي:

هند: شاوخوا ۴ میلیونه کسان

امریکا: شاوخوا ۱.۱ میلیونه کسان

روسیه: شاوخوا ۱.۱ میلیونه کسان

مکسیکو: شاوخوا ۸۰۰ زره کسان

برازیل: شاوخوا ۸۰۰ زره کسا ن

له همدې امله:

د نړۍ رسمي شمېرې: شاوخوا ۷ میلیونه مړینې ثبتوي.

په وروستیو کلونو کې تورونه یوازې چین ته نه دي متوجه شوي، بلکې ځینې امریکایي بنسټونه او سیاستوال هم تورن شوي چې د څېړنیزو بودیجو له لارې یې د ووهان د ویروس پېژندنې انسټیټوټ کې د کورونا ویروسونو د څېړنو ملاتړ کړی وه.

هغه څه چې تر اوسه نسبتاً روښانه دي:

د امریکا د روغتیا ملي انسټیټیوټ (NIH) د EcoHealth Alliance په نوم د یوې ادارې له لارې د خفاشانو د کورونا ویروسونو د څېړنو یوه برخه بودیجه د ووهان لابراتوار ته رسېدلې وه. دا موضوع جنجالي نه ده او د امریکا په رسمي اسنادو کې هم ذکر شوې ده.

د دې په اړه چې ایا دغه څېړنې واقعاً د فعالیت زیاتولو څېړنې وې او که نه؟ د ساینسپوهانو او سیاستوالو ترمنځ اختلاف شته. ځینې یې دا ډول څېړنې بولي او ځینې یې نه مني.

د کووید-۱۹ د ویروس اصلي سرچینه لا هم په بشپړ ډول نه ده ثابته شوې. د امریکا استخباراتي ادارو او علمي ټولنې له کلونو راهیسې پر دوو اصلي فرضیو بحث کړی دی:

له حیوان څخه انسان ته طبیعي لېږد.

د ووهان له لابراتوار څخه ناڅاپي خپرېدل.

په وروستیو کلونو کې د امریکا ځینو استخباراتي ادارو، د CIA په ګډون، ویلي چې د لابراتواري خپرېدو فرضیه یو څه محتمله ښکاري؛ خو د باور کچه یې ټیټه ده؛ یعنې شواهد د قطعي پایلې لپاره بسنه نه کوي.

په مقابل کې، NIH او ځینو ساینسپوهانو ټینګار کړی چې تر اوسه هېڅ مستقیم ثبوت نشته چې وښيي SARS-CoV-2 ویروس په لابراتوار کې جوړ شوی یا د امریکا له خوا تمویل شویو پروژو څخه رامنځته شوی دی.

له همدې امله، که پوښتنه دا وي چې ایا داسې اسناد شته چې امریکا د ووهان د لابراتوار د څېړنو مالي ملاتړ کړی؟

ځواب: هو، رسمي اسناد دا موضوع تأییدوي.

خو که پوښتنه دا وي چې ایا ثابته شوې چې امریکا کورونا ویروس جوړ کړی یا یې په قصدي ډول خپور کړی؟

تر اوسه د داسې ادعا لپاره قطعي او د نړیوال اجماع وړ ثبوت نه دی وړاندې شوی او د وبا اصلي سرچینه لا هم د څېړنو او اختلاف موضوع ده.

اوس دا پوښتنه راپورته کېږي چې په داسې نړۍ کې چې موږ پکې ژوند کوو، د معلوماتي او بریښنايي رسنیو وسایل په بې ساري چټکۍ فعالیت کوي او نړۍ یې په یوه کوچني کلي بدله کړې او کولای شو د کلونو پخواني خبرونه او د لرې پرته ټولنو واقعیتونه په یوه یا دوو ورځو کې ترلاسه کړو، ادعاوې او تورونه وڅېړو او ارزونه یې وکړو؛ نو ولې بیا هم د کلونو پخواني شکونه، ابهامونه او پوښتنې لا هم پر خپل ځای ناځېرلې پاتې دي؟ ولې هېڅ ملي، سیمه‌ییز یا نړیوال بشري بنسټ ونه توانېد چې دا موضوع په بشپړه توګه روښانه کړي؟

دا حالت په څرګنده ښيي چې نړیوالې اداري او مدیریتي جوړښتونه په حقوقي او بشري چارو کې تر کومه بریده نیمګړتیاوې، ناپامي او بې‌تفاوتي موجوده ده.

تر ټولو ډېر زیان هم هغو زحمت کښو خلکو ولید چې د دې وژونکي ویروس پر وړاندې یې د دفاع امکانات لږ وو، یا که امکانات یې درلودل هم، د خپل کار او مسلک د ځانګړتیاوو له امله یې د روغتیايي تدابیرو بشپړ رعایت نه شو کولای؛ ځکه د دوی کار په مستقیم ډول له هغو چاپېریالونو سره تړلی و، چې د ویروس د خپرېدو خطر پکې زیات و او که به یې کار پرېښود، له اقتصادي بحران سره به مخ کېدل.

شاید همدا یو له هغو علتونو څخه وي چې ختیځوالو پر لویدیځوالو او لویدیځوالو پر ختیځوالو د دغو تورونو د تعقیب او جدي پلټنې هڅه ونه کړه.

او اوس پوښتنه دا ده:

ولې نړیوالې ادارې کله نا کله د څو محدودو کسانو د وژل کېدو په وړاندې ټوله نړۍ په شور راولي، لاریونونه کوي او غبرګونونه ښيي؛ خو کله چې د میلیونونو غریبو انسانانو د مرګ خبره وي، په خورا ارامۍ، چوپتیا او بې‌تفاوتۍ ترې تېرېږي؟ معلوم چې په پانګوالي او طبقاتي ټولنو کې د غریبو پرګنو مرګ او ژوند هومره مهم نه وي.

سړی خفه شي!

اپکس امانت د ورو مالي تمویلونو مؤسسې رسمي په فعالیت پیل وکړ

د (اپکس امانت) په نامه د ورو مالي تمویلونو مؤسسې له د افغانستان بانک او صنعت او سوداګرۍ وزارت څخه د جواز ترلاسه کولو وروسته، د مالي خدمتونو وړاندې کولو (د اسلامي پورونو) په برخه کې په رسمي ډول خپل فعالیت پیل کړ.

د باختر اطلاعاتي اژانس د خبر له مخې؛ په کابل کې په همدې مناسبت جوړو شویو مراسمو کې چې د اسلامي امارت او د مالي او بانکي بنسټونو مسئولینو، د خصوصي سکټور استازو، انکشافي شریکانو او متشبثینو ګډون کړی و؛ د (اپکس امانت) مؤسسې رئیس حبیب الرحمن وویل: ((زموږ موخه دا ده چې افغان کورنیو، پنځوونکو او کسبګرو ته د لاسرسي وړ او د شریعت مطابق اسلامي مالي خدمتونه وړاندې کړو.))

ده ژمنه وکړه چې (اپکس امانت) به خپل فعالیتونو د امانتدارۍ، روڼتیا، حساب ورکولو او صداقت پر بنسټ ترسره او د افغانستان ټول نافذه قوانین، مقررات، احتیاطي الزامات او د شرعي حاکمیت ټول معیارونه په پشپړه توګه رعایت کړي.

دغه راز د رپاني بنسټ رئیس نصرالدین رپاني، د (اپکس امانت) مؤسسې په اړه معلومات ورکړل او ویې ویل: ((اپکس امانت د «رپاني» بنسټ یوه څانګه ده، چې د افغانستان ځوانانو، بزګرانو، کوچنیو کاروباریانو، راستنېدونکو، کسبګرو او سوداګریزو بنسټونو ته به د اسلامي شریعت له اصولو سره سم، مسئولانه او اغېزمن مالي خدمتونه وړاندې کړي. د دغې مؤسسې دنده دا ده، چې اسلامي او اخلاقي مالي خدمتونه، مسئولانه تمویل، منظمې سوداګرۍ او پانګې ته د لاسرسي له لارې هغوی ته د ودې زمینه برابره کړي.))

ده زیاته کړه: ((زموږ موخه یوازې تمویل نه دی؛ بلکې د فرصتونو رامنځته کول هم دي. افغانستان یوازې مرستو ته اړتیا نلري؛ بلکې د فرصتونو رامنځته کولو، پانګونې، متشبثینو او د خصوصي سکټور ودې ته اړتیا لري. پانګه وال باید د افغانستان په بېلابېلو برخو کې پانګونه وکړي او د خلکو د پرمختګ زمینه برابره کړي.))

د مراسمو په دوام، د اقتصاد وزارت مسلکي معین ډاکټر عبداللطیف نظري، د یادې مؤسسې د فعالیت پیل، د هېواد اقتصادي ودې په لاره کې یو مهم ګام وباله او ویې ویل: ((افغانستان لا هم د یو شمېر هېوادونو له لوري تحریم دی او موږ بانکي محدودیتونه لرو؛ خو له دې ټولو سره سره؛ بیا هم په هېواد کې کورنۍ او بهرنۍ پانګونه د ودې او پراختیا په حال کې ده او دلیل یې دا دی چې زموږ په هېواد کې سراسري امنیت تامین دی، د فساد او بروکراسۍ لمن راټول شوې ده، د پانګونې پر وړاندې سختې او پېچلې مقررې نشته او د افغانستان اسلامي امارت له لوري پانګه والو ته د پانګونې اړینې اسانتیاوې برابرې شوې دي.))

نظري ډاډ ورکړ چې اسلامي امارت په ځانګړې توګه اقتصاد وزارت له پانګه والو او مؤسسو سره همکار دی، کړنې یې څارې او د هغو د فعالیتونو هرکلی او ملاتړ کوي؛ څو افغانستان ځان بسیاینې ته ورسېږي.

همداً رنګه، د ورو مالي خدمتونو مؤسسو د اتحادیې مسئول حافظ غلام اسحاق بیان، په خپلو خبرو کې وویل چې اوسمهال د ورو مالي خدمتونو مؤسسې د هېواد په ۲۴ ولایتونو کې شاوخوا ۶۶ زره پېرودونکو ته د کرنې، مالدارۍ، سوداګرۍ او نورو برخو کې خدمتونه وړاندې کوي.

هېره دې نه وي چې اوسمهال د ورو مالي تمویلونو ۹ مؤسسې د افغانستان بانک څخه جوازونه ترلاسه کړي او د هېواد په ۱۷ ولایتونو کې د مالي خدمتونو وړاندې کولو په برخه کې فعالیت کوي.

افغان اعلانات



اعلان داوطلبی

موضوع: نشر اعلان (پروژه: خریداری تایر و بطری برای وسایط مختلف النوع تیز رفتار و بلند تناژ ضرورت شرکت امارتی نفت و گاز افغانستان)
شرکت امارتی نفت گاز افغانستان، از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی پروژه: خریداری تایر و بطری برای وسایط مختلف النوع تیز رفتار و بلند تناژ دارای شماره تشخیصیه (AOGC/NCB/1405/G- 16) اشتراک نموده و شرطنامه را به شکل سافت از {آمریت تهیه وتدارکات شرکت امارتی نفت وگاز افغانستان} در اوقات رسمی بدست آورده، داوطلبان آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون عقود و طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ۱۲ روز تقویمی به {آمریت تهیه و تدارکات شرکت امارتی نفت و گاز افغانستان} واقع {ناحیه ۱۷، سرکوتل خیرخانه} ارایه نمایند؛ آفرهای ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد. اظهارنامه تضمین آفر خانه پری، مهر و امضاء گردد و جلسه آفرگشایی بروز تعیین شده مندرج در شرطنامه ساعت۱۰:۳۰ بجه قبل از ظهر در تعمیر جدید شرکت امارتی نفت گاز افغانستان دایر میگردد.

اعلان

د عدلیې وزارت د انسجام لوی ریاست د ټولنو چارو ریاست په پام کې لري چې د ټولنې دلاښه تنظیم په موخه د اتحادیو او خیریه بنسټونو له کړنلارې سره سم،اتحادیه (د کابل ښار د شلمې ناحیې د معاملاتو د لاربښوونې اتحادیه ته د فعالیت جواز ورکړي.
دیاد جواز اخیستلو لپاره د محمد فاروق د محمد رفیق زوی، د کابل ولایت چهار آسیاب ولسوالی اصلی او د کابل ولایت ۲۰ ناحیې فعلی اوسیدونکی د رییس، او صفی الله د محمد شریف زوی، د کابل ولایت چهار آسیاب ولسوالی اصلی او فعلی اوسیدونکی د مرستیال په توګه عارض شوي، که پر یادو اشخاصو دصنف اړوند کوم څوک نیوکه لري، د اعلان له نیټې څخه تر لسو ورځو پورې د عدلیې وزارت یاد ریاست ته خپل شکایت له اسنادو او شواهد و سره یوځای په لیکلي بڼه وړاندې کړي، له یادې نیټې وروسته به نوموړو اشخاصوته د فعالیت جواز صادریږي چې دجواز د صدور له نیټې څخه د جواز تر نهایي نیټې پورې په یادو اشخاصو څوک د شکایت حق نه لري.۳۱۵۴

خبرتیا

ملی بس امارتی شرکت په پام کې لري، چې د کابل ښاروالۍ اتمې ناحیې اړوند سیاه سنګ ساحه کې په (۱۸۴۸۲) متر مربع مساحت سره یو باب مارکیت چې د سرک په سر (۱۰) بابه هټۍ چې متفاوتې اندازې لري او دوهم پوړکې درې دفترې اطاقونه او یو باب ګدام (۴۷۰،۵۳) متر مربع او نور په مخروبه ډول، داخل مارکیت کې (۹) بابه هټۍ (۱۷۱) بابه هټۍ په مختلفو اندازو سره چې د ګدامونو په ډول استفاده ترې کیږي. دوه پوړه خامې هټۍ چې (۲۴۷) متر مربع مساحت لري ، او ۵ بابه ګدامونه (هنګرونه) چې متفاوت مساحتونه لری ، د دریو کالونه لپاره د داوطلبۍ پروسې له لارې په کرایه وکړي.
ټول حقیقي او حکمي اشخاص چې معتبر جواز او د امارتي ځمکو د اجارې، کرایې او تدارکاتو قانون مطابق اهلیت او د یاد ملکیت په کرایه نیولو ته لیوالتیا ولري، کولای شي د اعلان د خپریدو له نیټې څخه تر ۲۱ روځو پورې خپل غوښتنلیکونه، د جواز کاپي او د تابعیت تذکره د ملی بس امارتي شرکت د جایدادونو د ترون عمومي مدیریت ته چې د کابل ښاروالی ۱۶ می ناحیې اړوند زنده بابانو کي ورکونکو ریاست تر څنګ موقعیت لري مراجعه وکړی ترڅو شرطپانه تر لاسه او مطالعه کړی. د شرطپانې قیمت (۲۰۰۰) دوه زره افغانی د چي بیا نه ورکول کیږي او د تضمین پیسی په نقدی ډول اخستل کیږي.۳۱۳۹

اطلاعیه فروش امتیاز عمده فروشی

محترم حنیف الله نیازی فرزند سید لعل شاه نیازی ولدیت آغا سعید نیازی دارنده تذکره (۰۷۳۰۸- ۰۷۰۰- ۱۳۹۷) مسکونه اصلی ولایت پروان مالک امتیازعمده فروشی ادویه نوی هارون ذکی خواهان خواهان فروش ادویه خویش بالای محترم روح الله نیازی فرزند سید لعل شاه نیازی ولدیت آقا سعید نیازی دارنده تذکره نمبر (۱۶۳۲۴- ۰۴۰۰- ۱۳۹۸) مسکونه اصلی ولایت پروان گردیده است.
اشخاص ، موسسات و دوایر د ولتی که بالای عمده فروشی مذکور ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ده یوم به معینیت غذا و ادویه افغانستان اطلاع دهند.۳۱۳۵

اطلاعیه مفقودی

به تعداد چهار قطعه استعلام شورای طبی به اسم هر یک :
۱-هلی سلطانی بنت ملتان
۲-الهه افشار بنت محمد مقیم
۳-ولید گل مشعل فرزند حاجی یوسف گل
۴-عبدالله نظری فرزند محمد سرور مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۳۱۴۸

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه جواز شرکت دنیار انترنشنل مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۳۱۳۸

اطلاعیه مفقودی

یک طغرا مهر مدرسه فیض القرآن مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۳۱۶۰

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه ترجمه انگلیسی تذکره تابعیت به اسم بلال فرزند عبدالوکیل مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۳۱۴۱

اطلاعیه مفقودی

به تعداد یک معامله فروش وسایط نقلیه دارنده سریال نمبر (۱۴۲۴۱۶) از رهنمای معاملات کاپیسا قره باغ به اسم محترم خواجه صفی الله فرزند خواجه عبدالقدیر دارنده جواز نمبر ۴۵۰۶ واقع موتر فروشی های قره باغ ولسوالی قره باغ شهر کابل مفقود گردیده است.
بناء سته دفتر متذکره از اعتبار ساقط می باشد. ۳۱۵۱

د صنعت او کانونو . . .

اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي ویلي: د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله د فرمان پر اساس د اسلامي امارت له لوري صنعتکارانو او سوداګرو ته ډېرې اسانتیاوې برابرې شوې دي.
ښاغلي حنفي زیاته کړې: «نن ورځ افغانستان په ډېرو برخو کې ځان بسیاینې ته رسېدلی دی».د ریاست‌الوزراء اداري مرستیال ویلي، اسلامي امارت له کورنیو او بهرنیو پانګوالو ملاتړ کوي او هڅه کوي ، چې افغانستان پر یو صادراتي هېواد بدل کړي. نوموړي ټینګار کړی، چې د اسلامي امارت ډېر تمرکز پر دې دی، څو افغانستان له وارداتي څخه په صادراتي هېواد بدل کړي.دغه راز ښاغلي حنفي ویلي، د صنعت کارانو ملاتړ لپاره یې شاوخوا ۲۵ بېلابېلو برخو کې اسانتیاوې برابرې کړي، چې د صنعتي ځمکو وېش، د مالیاتو معافیت او نورې لازمې اسانتیاوې پکې شاملې دي.د ریاست‌الوزراء اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي په وینا، چې د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو سره افغانستان په یو واحد او متحد هېواد بدل شوی دی.
ښاغلي حنفي همداراز د نشه‌يي توکو له منځه وړلو برخه کې د اسلامي امارت جدي او بریالۍ مبارزې ته په اشارې زیاته کړې، چې په افغانستان کې د نشه‌يي توکو کښت، تولید او قاچاق په بشپړه توګه له منځه تللی دی.دغه‌راز نوموړي د نشه‌يي توکو پر وړاندې مبارزې او افغان بزګرانو ته د بدیل کښت د برابرولو په برخه کې د نړۍ پر نه همکارۍ نیوکه کړې او ویلي یې دي، چې تر اوسه په دې برخه کې د نړۍ له لوري د پام وړ مرسته نه ده شوې.د ریاست‌الوزراء اداري مرستیال ټینګار کړی، چې د هېواد په هېڅ سیمه کې هېچا ته د نشه‌يي توکو کښت اجازه نه ورکول کېږي.
ښاغلي حنفي همداراز په افغانستان کې د سراسري امنیت ټینګښت یوه ستره لاسته راوړنه بللې او زیاته کړې یې ده، چې اوس هېوادوال کولای شي په ډاډمنه فضا کې د افغانستان هرې سیمې ته سفر وکړي.
اداري مرستیال له پانګه والو غوښتي، چې د هېواد پر کانونو او نورو برخو پانګونه وکړي او له شته فرصتونو اعظمي استفاده وکړي. دغه راز د چارو ادارې لوی رئیس شیخ نورالحق انور ویلي، د اسلامي امارت پالیسي سازګاره ده، هم د افغانانو په ګټه او هم د بهرنیانو په خېر ده. ښاغلي انور زیاته کړې، اسلامي امارت تل خپلې پالیسۍ ته ژمن پاتې شوی او په هره برخه کې سترې لاسته‌راوړنې لري. همدارنګه په کابل کې د ایران سفیر علي‌رضا بیکدلي ویلي، هېواد یې د افغانستان د خپلواکۍ، پرمختګ او سوکالۍ په موخه د اسلامي امارت د هر مثبت ګام هرکلی او ملاتړ کوي. ښاغلي بیکدلي زیاته کړې « د ایران او افغانستان اړیکې په رغنده لوري روانې دي، چې د دواړو هېوادونو او سیمې د همکاریو د پیاوړتیا لامل ګرځي».
ورته مهال د صنعت او سوداګرۍ وزارت مرستیال احمدالله زاهد ویلي، اسلامي امارت د هېواد اقتصادي ثبات او ځان بسیاینې لپاره هڅې چټکې کړې دي.
ښاغلي زاهد زیاته کړې، د اقتصادي خپلواکۍ او په وارداتو د تکیې کمولو لپاره د کورنیو تولیداتو د پیاوړتیا برخه کې کوټلي ګامونه اخیستل شوي.نوموړي د انرژۍ نشتون د اقتصادي پرمختګ پر وړاندې ستر خنډ بللی، خو دې برخه کې یې د ګڼو هوکړو لاسلیک ته په اشارې ویلي، تمه شته چې تر راتلونکو دوو کلونو به دا ستونزه تر ډېره حل شي.دغه‌راز احمدالله زاهد هیله ښودلې، چې افغانستان به د خپل جغرافیایي موقعیت له کبله د منځنۍ او سویلي اسیا ترمنځ د اقتصادي او سوداګریزو اړیکو مهم پل وګرځي.

د افغانستان او قرغیزستان . . .

په قرغیزستان کې د افغانستان سفارت ویلي، چې په دې لیدنه کې مولوي عبدالشکور حقاني د دوه اړخیزو سوداګریزو اړیکو د پراختیا لپاره افغان سوداګرو او باروړونکو موټرچلوونکو ته د ویزو د ورکړې او اړینو اسانتیاوو پر رامنځته کولو ټینګار کړی دی.
د خبر له مخې، د قرغیزستان د بهرنیو چارو وزارت استازي میربېک باکیټوویچ هم د افغانستان او قرغیزستان ترمنځ د اړیکو د لا پراختیا ملاتړ څرګند کړی او په ځانګړي ډول یې د سوداګریزو، اقتصادي او بشر دوستانه همکاریو د پیاوړتیا په برخه کې د همکارۍ ډاډ او د لازمو اقداماتو ژمنه کړې ده.

رسنی دي . . .

پوهېږي.»
بلخوا، د اطلاعاتو او کلتور وزارت د خپرونو چارو مرستیال مولوي حیات‌الله مهاجر فراهي، په همدې مراسمو کې ویلي، افغان دفاعي ځواکونو په خپلو بریدونو کې په بلوچستان او خیبر پښتونخوا کې د داعش او د شر او فساد مرکزونه په نښه کړي دي.
نوموړي د اسلامي ارزښتونو، ملي ګټو او افغاني فرهنګ پر ساتنې او دفاع ټینګار کړی.
مولوي حیات‌الله مهاجر فراهي د پاکستان د پوځي رژیم له لوري پر ملکي وګړو وروستیو بریدونو ته په اشارې ویلي:« داډ درکوم، چې اسلامي امارت به د دښمن هېڅ ډول تېری بې‌ځوابه پرېنږدي.»

کابل کې . . .

فطرت، د علومو اکاډمۍ لوی رئیس، شیخ‌الحدیث فریدالدین محمود، د لوړو زده کړو وزارت مرستیال، ضیاءالرحمن آریوبي، د اقتصاد وزارت مرستیال، دکتور عبداللطیف نظري، د اطلاعاتو او کلتور وزارت د ورځپاڼو رئیس، انجنیرعزیز بریالی، د بېلابېلو امارتي ادارو مسئولینو، د پوهنتونونو استادانو، علماوو او لیکوالانو ګډون کړی و.
په یاد سیمینار کې، د اسلامي امارت مرستیال ویاند، ملا حمدالله فطرت، د ریاست‌الوزراء الحاج ملا محمد حسن آخند پیغام ولوست چې پکې راغلي وو: «افغانستان د تاریخ په اوږدو کې د تمدنونو، سوداګریزو لارو او کلتوري تعاملاتو مرکز پاتې شوی او اوس هم د سیمه‌ییز اتصال، سوداګرۍ، ترانزیټ، انرژۍ او پانګونې په برخو کې پراخ فرصتونه لري.»
همدا شان د سیمې هېوادونو ترمنځ د اقتصادي همکاریو پراختیا او د انرژۍ د لېږد پروژې کولای شي افغانستان د سیمه‌ییزې همکارۍ پر مهم محور بدل کړي.
د پیغام په یو برخه کې ویل شوي و، چې اسلامي امارت له ټولو ګاونډیو او د سیمې هېوادونو سره د متقابل احترام، ښه ګاونډیتوب، اقتصادي همکاریو او متوازنو اړیکو د پراختیا سیاست تعقیبوي او باور لري چې سیاسي ثبات، اقتصادي پرمختګ او سیمه‌ییز اتصال د ټولو هېوادونو ګډې ګټې تضمینوي.
همدا راز په پیغام کې راغلي و: «د افغانستان ستراتیژیک موقعیت د هېواد یوه مهمه پانګه ده، خو د دې فرصتونو اغېزمنه ګټه هغه مهال اخیستل کېدای شي چې د دقیقو څېړنو له لارې فرصتونه او ننګونې وپېژندل شي.»
په هېواد کې اشغال پای ته رسېدلی، سرتاسری امنیت ټینګ شوی، مرکزي حاکمیت رامنځته شوی او افغانستان په سیاسي، اقتصادي او نظامي برخو کې خپلواک شوی دی.
په پیغام په بله برخه کې راغلي و، په تېرو څو کلونو کې د امنیت، اصلاحاتو او اقتصادي ثبات په برخو کې مهم پرمختګونه شوي، چې د سوداګرۍ او پانګونې لپاره یې مناسب چاپېریال برابر کړی او د اقتصادي پروژو د عملي کېدو زمینه یې پراخه کړې ده.
په سیمینار کې د اسلامي امارت اداري مرستیال، مولوي عبدالسلام حنفي وویل: «د اسلامي امارت له واکمنېدو وروسته په هېواد کې ګڼ شمېر فرصتونه رامنځته شوي او په بېلابېلو برخو کې مثبتې لاسته راوړنې شوې دي.»
د هغه په وینا، په هېواد کې سرتاسري امنیت ټینګ شوی، ټول افغانان د یوه اسلامي بیرغ تر سیوري لاندې ژوند کوي او د سلګونو لویو او کوچنیو پروژو چارې روانې دي.
ښاغلي حنفي زیاته کړه: «په هېواد کې نشه یي توکي سل سلنه له منځه وړل شوي دي، مخکې په هېواد کې درې میلیونه روږدي کسان موجود وو، چې یو میلیون یې ښځې او ماشومان وو، او د دوی د درملنې لړۍ په مرکز او ولایتونو کې ترسره شوې او لا هم دوام لري.»
هغه ټینګار وکړ، اسلامي امارت هېچا ته اجازه نه ورکوي چې د افغانستان خاوره د بل هېواد پر ضد وکارول شي.
د علومو اکاډمۍ لوی رئیس، مولوي فریدالدین محمود، وویل: «اکاډمي په بېلابېلو برخو کې علمي او څېړنیز سیمینارونه جوړوي، د پوهانو مقالې ارزول کېږي او وروسته د کتاب په بڼه چاپېږي.»هغه زیاته کړه، د نننې سیمینار مقالې هم د «افغانستان او سیمه؛ فرصتونه او ننګونې» تر عنوان لاندې راټولې شوي او د کتاب په بڼه به خپرې شي.
د لوړو زده کړو وزارت مرستیال، ضیاءالرحمن آریوبي وویل: «هېوادوال باید د شته فرصتونو سالمه ګټه واخلي، ځکه افغانستان له طبیعي او اقتصادي پلوه بډای هېواد دی.»
د هغه په وینا، اسلامي امارت فرصتونه پېژندلي او د هغو د عملي کېدو لپاره کار روان دی؛ خو لا هم ګډو هڅو ته اړتیا شته.
د اقتصاد وزارت مرستیال دکتور عبداللطیف نظري، وویل: «د نړۍ هېوادونه هڅه کوي له افغانستان سره خپلې اړیکې پراخې کړي، ځکه افغانستان مهم جغرافیایي موقعیت، طبیعي زېرمې او د سیمې د نښلونکو لارو ظرفیت لري، چې د هېواد ارزښت یې لوړ کړی دی.»
د یادونې وړ ده، په دې سیمینار کې د هېواد د بېلابېلو پوهنتونونو ۲۴ علمي مقالې غوره شوې، چې د لیکوالانو له لوري وړاندې شوې او ټاکل شوې ده په راتلونکي کې د کتاب په بڼه هم چاپ شي.
سمیع‌الله مومند

کریکټ؛ د شپږیزه . . .

ځل مخ شي، چې په ټوله کې به د ۱۴ ورځو په موده کې ۲۱ لوبې ترسره شي او په پای کې به دوه مخکښې لوبډلې د جولای میاشتې په ۱۴مه نېټه ترسره کېدونکې پای‌لوبې ته لاره ومومي.
د یادونې وړ ده، چې د کورنې کریکټ دغه سترې شل اوریزې سیالۍ د لومړي ځل لپاره په ۲۰۱۳م کال کې پیل شوې، چې له هغه راهیسې یې لس پراوونه ترسره شوي دي او سږکال به یې یوولسم پړاو سیالۍ ترسره کېږي.
سپین غر لوبډلې ۳ ځلې، دغه راز امو، مس عینک او کابل لوبډلې دوه-دوه ځلې دغه سیالۍ په خپلې اتلولۍ پای ته رسولې دي.

افغان سوداګرو . . .

اسانتیاوو، د افغان صادراتو د پراختیا او اقتصادي همکاریو د پیاوړتیا په اړه هم خبرې کړې دي.
د هغه په وینا، دغه ترونونه په ځانګړي ډول د بلخ او د هېواد د شمالي سیمو لپاره مهم دي او تمه کېږي چې افغانستان ته د نورو بهرنیو پانګونو د جذب زمینه هم برابره کړي.

د کابل ښار . . .

طرحې اړوندو وزارتونو ته راجع شوې، تر څو یې په اړه څېړنه ترسره او راپورونه یې د پانګونې بین الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.

د بغلان ولسونه . . .

غوښتې چې د ملکي وګړو د خوندیتوب لپاره عملي اقدامات وکړي او په وینا یې دغو بنسټونو د سولې ټینګېدو برخه کې سپارل شوې مسئولیت په ښه توګه ادا کړي.
تر دې وړاندې هم یو شمېر کارپوهانو نړیوالو بنسټونو په ځانګړې توګه د ملګرو ملتونو سازمان ته په اشارې ویلي و، چې دغه اداره په خپل ماموریت کې ناکامه ده او باید خپله تګلاره کې مثبت بدلون راولي. باختر

افغانستان کې . . .

کمښت جبران کړي؛ هغه بهیر چې د اپیوني توکو په نړیوال بازار کې دوامدار بدلونونه رامنځته کولی شي.
سرچینې لیکلي، سره له دې چې په میانمار کې د تریاکو تولید په ۲۰۲۱ کال کې له ۴۲۰ ټنو څخه په ۲۰۲۵ کال کې تر زر ټنو پورې ډېر شوی؛ خو دغه زیاتوالی د دې اداري تر څار لاندې د نورو هېوادونو، لکه لاوس او مکسیکو، له تولید سره یو ځای هم د دې جوګه نه دی شوی چې د افغانستان د تولید کمښت جبران کړي.
ملګرو ملتونو په دغه راپور کې خبرداری ورکړی چې د دغه بهیر دوام کولی شي په نړۍ کې د اپیوني توکو د تولید، قاچاق او مصرف بڼه بدله کړي او د عامې روغتیا، امنیت او د سازمان شویو جرمونو پر وړاندې د مبارزې لپاره د پام وړ پایلې ولري.

د مولوي محمد نبي . . .

سیاست او جهاد په اړه د داسې کتاب لیکل یوه مهمه اړتیا وه.»
د ارشاد، حج او اوقافو وزارت مرستیال، مولوي مخدوم عبدالسلام سعادت، په غونډه کې وویل: «یرغلګرو د افغانانو د فکري بدلون لپاره هڅې کړې دي؛ خو د دې خلکو له مقاومت او غیرت سره مخ شوي او مات شوي دي.»
هغه زیاته کړه: «اوسنی نظام د هغو کسانو د جهاد او قربانیو پایله ده، چې د هېواد لپاره یې مبارزه کړې او د هغوی اولادونه باید د خپلو پلرونو له تاریخي مبارزو خبر وي.»
سیاسي مبصر او لیکوال، مولوي شېراغا رشیدي، د غونډې په لړ کې وویل: «که د نوموړي ژوند هر اړخیز وڅېړل شي، نو ډېر درسونه ترې اخیستل کېدای شي.»
د هغه په وینا: «محمدي د کمونیزم پر ضد د جهاد فتوا ورکړه او په عملي مبارزه کې یې هم برخه واخیسته.»
ښاغلي رشیدي زیاته کړه، چې نوموړي د اسلامي امارت د رامنځته کېدو په لومړیو پړاوونو کې هم ملاتړ کړی و او تل یې د افغانستان او اسلامي نړۍ د خیر غوښتنه کوله.
د کتاب لیکوال، مولوي عبدالمتین عاطفي، وویل: «د مولوي محمد نبي محمدي شخصیت د دیني عالم، بلیغ ویناوال، سیاستوال، حاضرځواب او اسلامي امارت ته د ژمن شخصیت په توګه د څېړنې وړ و.»
د مولوي محمد نبي محمدي زوی، مولوي نقیب الله محمدي، د اطلاعاتو او کلتور وزارت له لوري د دې غونډې د جوړېدو هرکلی وکړ او ویې ویل، چې دا ډول علمي غونډې دوه مهمې ګټې لري: «لومړی، د داسې شخصیتونو مینوال او خواخوږي په حکومت راماتول او دویم، د هېواد حقیقي تاریخ راتلونکو نسلونو ته لېږدوي او د ناوړه فکري جګړې په مخنیوي کې مرسته کوي.»
هغه زیاته کړه، چې مولوي محمد نبي محمدي د خپلو علمي خدمتونو له امله ځانګړی ځای او شهرت ترلاسه کړی و.
تاج محمد بهار

د انروا د بودیجې . . .

د میلیونونو بې‌ځایه شویو او ارمنو فلسطینیانو لپاره حیاتي ارزښت لري.
د یادونې وړ ده، چې انروا په غزه، لبنان، اردن او سوریه کې شاوخوا ۲.۶ میلیونه فلسطینیانو ته بشري مرستې، ښوونیز خدمتونه، روغتیایي پاملرنه، د سرپناه اسانتیاوې او نور بنسټیز خدمات وړاندې کوي. د مالي ستونزو دوام ښایي د دغو خدمتونو د کمېدو لامل شي او د سیمې بشري وضعیت نور هم کړکېچن کړي.

Hewad Daily

د ورځپاڼو رئيس: انجنيرعُزير بريالی
آمر او مسئول مدير: محمد قاسم عزام
مسئول سکرتر: شېرمحمد نظري
ډيزاينر: محمديونس مايار
د ويبپاڼې مدير : ګل ولي افغانيار
چاپ پته: آزادي مطبعه، امارتي شرکت
پته: اتمه ناحيه د حضوري چمن ختيځ-کابل

بريښنايي بڼه | X

www.hewaddaily.com
info@hewaddaily.com
020-2526340
0766490049

اسعارو بيعه

يو ډالر	٦٥.١٥ اف
يو يورو	٧٤.٥٠ اف
يو پوند	٨٥.٢٠ اف
يو درهم	١٧.٧٤ اف
زر ريال	٠٣٩.٠٣٨ اف
زر کلداري	٢٢٦.٢٢٥ اف
زر کلداري	٧٥٣.٧٤٣ اف

د هوا حالات

	کابل	هرات	مزار شريف	کندهار	هلمند	فراه	غزنی	
↑ ٠٤:٤٠	٣١°C	٢٩°C	٣٢°C	٤١°C	٤١°C	٣٨°C	٢٩°C	↓ ٠٧:٠٨

د کابل ښار په لومړۍ ناحيه کې د سوداګريز مارکېټ جوړولو طرحه تائيد شوه

د پانګونې بين الوزارتي کمېټې غونډه په مرمرينه ماڼۍ کې وشوه. د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت وايي، چې دې غونډې ته د خصوصي سکتور له لوري د کابل ښــار په لومړۍ ناحيه کې د ماليې وزارت اړوند پر ځمکه د سوداګريز مارکېټ جوړولو طرحې د ارزونې راپور وړاندې شو.

يــاد معاونيت زياته کــړې، چې له ارزونې وروســته، طرحه د تائيد وړ وبلل شــوه. د دې طرحې له مخې به خصوصي سکتور د شاوخوا ١١٨ ميليون افغانيو په پانګونې ســره شپږ پوړيز سوداګريز مارکېټ جوړ کړي، چې د اړتيا وړ اسانتياوې به ولري.

دغه‌راز په دې غونډه کې د کابل ښار په پنځمــه ناحيه او د بلــخ په مرکز مزارشريف ښــار کې د سوداګريزو مارکېټونو د جوړولــو پر طرحو هم بحث وشو. يادې . . .

٧مخ

د بغلان ولسونه؛ نړيوالې ادارې بايد د پاکستان بريدونو په اړه چوپتيا غوره نکړي

د بغلان يو شــمېر اوسېدونکو پر افغان خاوره د پاکستان پوځي رژيم وروستي بريدونه غندلي او ويلي يې دي، چې د ښځو او ماشومانو په نښه کول د توجيې وړ نه دي.د پلخمري ښار اوسېدونکي عبدالواحد وايي، چې نړيواله ټولنه بايد د دغو بريدونو د مخنيوي لپاره اغېزمن او عملي ګامونه پورته کړي. د همدې ښار يو بل اوسېدونکي محمدحسن په وينا، پر افغان خاوره بريدونه له ســرو کرښو تېرېدل دي.د عبدالرحمن په نامه قومي مشــر وايي: «افغان ولس تل د ســولې غوښــتونکی دی او له نــورو هم د ورته تګلارې هيله لري».بغلان مېشــتو له نړيوالې ټولنې، بشري بنسټونو او اړوندو نړيوالو سازمانونو . . .

٧مخ

سرپل کې نږدې ۴ ميليون جريبه ځرځايونه تثبيت شوي

د عدليې وزارت وايــي، د ځمکو د غصب د مخنيوي او د غصب شويو ځمکو د استرداد کمېسيون په سرپل کې څه باندې ۳ ميليونه او ۹۴۴ زره او ۵۶۵ جريــب ځرځايونــه تثبيت کړي دي.د ياد وزارت د خبرپاڼې له مخې، دا عامه ځرځايونه د سرپل په مرکز او ولسواليو کې موقعيت لري، چې د ځمکو د غصــب د مخنيوي او د غصب شــويو ځمکو د استرداد کمېسيون د توظيف شوي پلاوي له خوا تر بررسۍ لاندې نيول شوي او د ياد کمېســيون د پرېکړې پر بنسټ تثبيــت او د ځمکو په بانک کې ثبت شوي دي.

ســرچينه زياتوي، له يادو ځرځايونو څخه ۸۹ ســلنه يې چــې کابو ۳.۵ ميليون جريبه کېــږي، د ځرځايونو په حالت پاتې دي او ۱۱ ســلنه نورو يې طبيعي بڼه له لاســه ورکړې چې څه باندې ۴۵۰ زره جريبه کېږي او د خلکو له لوري پــه للمي او اوبي کرنيزو ځمکو، هســتوګنيزو کورونو او عامه تأسيســاتو تبديل شوي او يا نور تصرفات پکې ترسره شوي دي.

عدليــې وزارت ليکلــي، د ځمکو د غصب د مخنيوي او د غصب شــوو ځمکو د اســترداد قانــون د ۱۳ مې مادې پر بنســټ، پر عامه ځرځايونو تېــرى او پــه کرنيزو ځمکــو د هغو بدلول، په هغو کې د ســرپناه (کور) جوړول او په مرعــى ځمکو کې هر ډول نور تصرفات منع دي.

د مرعــى د ســروې او تشــخيص پــلاوی، چې د ځمکــو د غصب د مخنيوي او د غصب شــويو ځمکو د اســترداد کمېسيون له خوا توظيف شــوی دی، د هېواد په نورو ولايتونو کــې هــم د ځرځايونــو د ځمکو د بررسۍ په حال کې دی او د بررسۍ او تثبيت بهير په پای ته رسېدو سره، ياد ځر ځايونه د ځمکو په بانک کې ثبتېږي.

٧مخ

يو اېن او ډي سي:

افغانستان کې د کوکنارو توليد ۹۵ سلنه کم شوی

د ملګرو ملتونو له نشه‌يي توکو او جرمونو ســره د مبــارزې دفتــر (UNODC) د ٢٠٢٦ کال د نشــه‌يي توکو نړيوال راپور کې ويلي چې په افغانستان کې له ٢٠٢٣ کال راهيسې د کوکنارو توليد ۹۵ سلنه کم شوی او دغه بدلون د اپيوني توکو پر نړيوال بازار د پام وړ اغېز کړی دی.

د ملګرو ملتونو له نشه‌يي توکو او جرمونو سره د مبارزې دفتر د ٢٠٢٦ کال د نشه‌يي توکــو نړيــوال راپور کې ويلــي، چې په افغانستان کې د کوکنارو د توليد بې‌ساري کمښت د اپيوني توکو نړيوال بازار کې يو مهم بدلون بلل کېږي.

پــه راپور کې راغلي، چې په افغانســتان کې د کوکنارو د توليد له ۹۵ سلنه کمېدو وروسته، موجودې هيرويين زېرمې هم په تدريجي ډول د ختمېدو په حال کې دي او دغه وضعيت د نشه‌يي توکو قاچاقبران دې ته اړ کړي چې د هيرويين لپاره بديلونه ولټوي.د راپور له مخې، مصنوعي اپيوني توکو، لکه فنتانيل، نيتازينونو او اورفينونو ته د لاسرسي زياتوالی ښيي، چې د قاچاق شبکې هڅه کوي د دغو توکو په انتخاب سره د افغانستان د توليد د کمښت له امله د هيروئينو رامنځته شوی . . .

٧مخ

د مولوي محمد نبي محمدي پر جهاد او سياست ليکل شوي کتاب مخکتنه ترسره شوه

د جهاد او سياســت امــام په نوم د هغه کتاب د مخکتنې غونډه ترسره شــوه، چې د مولــوي محمد نبي محمدي د ژوند، علمي، سياســي او جهادي مبارزې بېلابېل اړخونه پکــې څېړل شــوي دي. د غونډې ګډونوالو د نوموړي د شــخصيت او تاريخي رول د معرفۍ ترڅنګ، د داســې آثارو ليــکل د راتلونکو نسلونو لپاره مهم وبلل.

د اطلاعاتــو او فرهنــګ ر وزارت، د فرهنګ او هنر مرســتيال، مولوي عتيق الله عزيــزي، دغې مخکتنه کــې وويل: «د هېــواد د علماوو د علمــي او عملي خدمتونــو ثبتول او تاريخ ته ســپارل د اوسني نسل مسئوليت دی.»

هغه ټينګار وکړ، چې هر عالم بايد داسې شــاګردان يا طالبان ولري، چــې د هغــوی علمــي او عملي ميراث راتلونکو نسلونو ته ورسوي.

د عامــه کتابتونونــو رئيس، قاضي رفيع الله صميــم، وويل: «د عامه کتابتونونــو رياســت د مطالعې د فرهنــګ د پياوړتيا لپــاره کار کوي او دا مهــال په هېواد کې ۱۰۹ عامه کتابتونونه فعال دي.»

هغــه د کتــاب ليکوال وســتايه او ويې ويل: «د مولــوي محمد نبي محمدي د علميت . . .

٧مخ

په درېيو ولايتونو کې نږدې دوه ميليونه متره مربع ځمکه له ماينونو پاکېږي

له پېښو ســره د مبارزې امادګۍ ادارې او د اومر ماين پاکۍ موسسې ترمنځ د ۴۵۶ زره ډالرو په ارزښت د همکارۍ هوکړه لاســليک شــو.د يادې ادارې رئيــس مــلا نورالدين ترابــي د يادې پــروژې پــر روښتيا او پــر وخت پلي کېدو ټينګار کړی او له يادې موسســې يې غوښــتي، چې تخنيکــي چارې د مسلکي معيارونو له مخې ترسره کړي.

نوموړي د ناچاوده توکو ګواښونو ته په اشارې ســره ويلي چې د دغو توکو په اړه د خلکــو د عامه پوهاوي لوړول، د هېــواد د وګړو د ځان او مال ســاتنه د يادې ادارې له لومړيتوبونو څخه دي.

د يــادې هوکړې لــه مخې بــه اومر موسسه د پکتيا په ځاځي، علي خېل او ډنډپټان ولسواليو، د پکتيکا په ګومل، ګيان، برمل، تروو او ورممۍ ولسواليو او د خوســت په ځاځي ميدان، بګ، ګربز، خوســت متون، سپېرې، تنې او تېره زي ولسواليو کې ټولټال يو ميليون ۶۷۷ زره متر مربــع ځمکه له ماينونو پاکه کړي.د يادونــې ده، چې ناچاوده توکي او د تېــرو جګړو پاتې ماينونه لا هم وخت ناوخت د افغان ماشــومانو ژوند اخلي.



بهرني لنډ خبرونه

انتونيو ګوتېرېش:

د انروا د بوديجې کمښت؛ ميليونونه فلسطينيان اغېزمنوي

د ملګــرو ملتونــو سرمنشــي انتونيــو ګوتېرېــش لــه غــړو هېوادونــو غوښــتي، چــې د فلســطيني کډوالــو لپــاره د ملګــرو ملتونــو د مرســتندويې ادارې (انــروا) د فعاليتونــو د دوام پــه موخــه ۱۰۰ ميليونــه ډالــره بېړنــۍ مالــي مرســته برابــره کــړي، څــو دغــه اداره وکــولای شــي خپلــو بشــري او حياتــي خدمتونــو تــه پرتــه لــه ځنــډه دوام ورکــړي. ګوترېــش خبــرداری ورکــړی، چــې انــروا لــه ســخت مالــي بحــران ســره مــخ ده او کــه ورتــه ژر تــر ژره اړينــې مالــي ســرچينې برابــرې نــه شــي، نــو د خپلــو فعاليتونــو د دوام وړتيــا بــه لــه لاســه ورکــړي. د ده پــه وينــا: د دې ادارې د بوديجــې کمښــت بــه د ميليونونــو فلســطيني کډوالــو پــر ژونــد مســتقيم اغېــز وکــړي او د هغــوی د لومړنيــو اړتيــاوو د پــوره کېــدو بهيــر بــه لــه جــدي ســتونزو ســره مــخ کــړي. ده لــه نړيوالــې ټولنــې او مرســتندويو هېوادونــو وغوښــتل، چــې د بشــري مســئوليت لــه مخــې دې د انــروا ملاتــړ تــه لومړيتــوب ورکــړي، ځکــه د دې ادارې خدمتونــه . . .

٧مخ

اوکراین خواستار ۶.۶ میلیارد یورو از صندوق صلح اروپا شد

اوکرایــن، از اتحادیــه‌ی اروپــا خواســته کــه ۶.۶ میلیــارد یــورو از منابــع صنــدوق صلــح اروپــا را بــرای تقویــت تــوان دفاعــی ایــن کشــور اختصــاص دهد. خبرگــزاری رویتــرز، روز چهارشــنبه ، بــه نقــل از میخایلــو فــدوروف، وزیــر دفــاع اوکرایــن، گــزارش داده کــه نیازهــای دفاعــی ایــن کشــور در ســال جــاری حــدود ۱۳۶ میلیــارد یــورو بــرآورد شــده، در حالــی کــه بودجــه‌ی داخلــی اوکرایــن تنهــا حــدود ۵۳ میلیــارد یــورو از ایــن هزینه‌هــا را تأمیــن می‌کند. بــه

گفتــه‌ی فــدوروف، اوکرایــن امســال بخشــی از هزینه‌هــای دفاعــی خــود را نیــز از محــل وام اتحادیــه‌ی اروپــا دریافــت خواهــد کــرد؛ بــا ایــن حــال، بخــش قابــل توجهــی از نیازهــای نظامــی ایــن کشــور هم‌چنــان بــدون تأمیــن مالــی باقــی مانــده اســت.

ټرمپ تېر کال له ډيجيټلي اسعارو څه باندې يو ميليارد ډالر عايد ترلاسه کړي

د امريــکا د متحــده ايالتونــو د ولسمشــر ډونالــډ ټرمــپ د ۲۰۲۵ کال مالــي راپــور ښــيي، چــې نومــوړي پــه تېــر کال کــې د ډيجيټلــي اســعارو (کريپټــو) او ورســره تړلــو ســوداګريزو فعاليتونــو څخــه لــه يــو ميليــارد ډالــرو څخــه زيــات عايــد ترلاســه کــړی دی.د رويټــرز د راپــور لــه مخــې، د ټرمــپ د شــتمنۍ د پــام وړ برخــه د ډيجيټلــي اســعارو، پانګونــو، مالــي معاملــو او اړونــدو ســوداګريزو پــروژو لــه لارې ترلاســه شــوې، چــې دا د هغــه د عايداتــو لــه مهمــو ســرچينو څخــه بلــل کېــږي.راپــور زياتــوي، چــې د ډيجيټلــي شــتمنيو بــازار تــه د ټرمــپ او د هغــه د ســوداګريزو شــرکتونو پــراخ حضــور د پــام وړ مالــي عوايــد رامنځتــه کــړي او د نومــوړي د شــتمنۍ پــه زياتوالــي کــې يــې مهــم رول لوبولــی دی.